احمد شاه ((اوریا)) وحدت یار
Ahmad Shah Vahdat Yar

الجهاد

علمي او جهادي میاشتنی خپرونه

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ ۚ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ ۚ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ۝

(التوبه ، ۱۱۱ـ آية)

ترجمه :

بیشکه چې الله پیرودلي (اخیستي) دي له مؤمنینو څخه نفسونه د- دوی او مالونه د دوی (چې خپل ځان او مال په جهاد کې د دې په عوض ښندي) چې بیشکه شته(په بدل د دغه جهاد کې) دوی ته جنت . جنګونه کوي دوی په لاره د الله کې ، نو (کله) وژني مؤمنان دا (کفار) او (کله د کفار وله لوري) وژلی شي دغه مؤمنان . وعده ده په دې (الله) باندې وعده حقه په تورات کې او په انجیل کې او په قرآن کې ، او څوك دی ښه وفا کوونکی په وعدې خپلې له الله څخه (بلکی هیڅوك نشته) نو خوشحاله شئ تاسې (ای مؤمنانو) په بیع ستاسې باندې ، هغه چې معامله کړې ده تاسی له الله سره په هغی (بیع او شریٰ سره) او دغه (بیعه چې ده) همدغه بری دی ډیرلوی .

الجهاد

علمي او جهادي میاشتنی خپرونه

مؤسس : الحاج مولوی جلال الدین «حقانی»

د تأسیس کال : ۱۳٦۸ هـ ش ۱٤۰۹ هـ ق

لومړی کال، لومړی گڼه، سرطان ۱۳٦۸ هـ ش، ذیحجة الحرام ۱٤۰۹ هـ ق

په دې گڼه کې

گڼه	عنوان	مخ
۱ـ	د منبع الجهاد مجلی نگلاره	٤
۲ـ	هغو پلانو نو ته یوه کتنه چې روسانو دافغاني ...	٦
۳ـ	د منبع العلوم مدرسه داسلامي علومو ...	۱۲
٤ـ	دافغانستان پولو ته د روسانو درانژدې کیدلو ...	۱٦
٥ـ	زمونږ اقتصادي پانگې او روسي لوټماران	۲۱
٦ـ	د روسی یرغلگرو قواو ترکیب او ...	۲۷
۷ـ	له یو قوماندان سره مرکه	۳۱

پته : پېښور ـ بورډ ـ ناصر باغ روډ

تلیفون نمبر : ٤۳٤۷۳

بسم الله الرحمن الرحيم

د منبع الجهاد مجلې تګلاره

الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على رسوله الكريم . اما بعد :

دا دی د خدای تعالی په رحم او نصرت د «منبع الجهاد» په نامه دیوې علمي او جهادي مجلې په خپرولو پیل کیږي . د دې مجلی موضوع او مرام د اسلام خدمت او د اسلامي احکامو په رڼاکې د مسلمانانو د اسلامي او جهادي احساس ژیات تنویر او د جهادي روحیې زیاته تقویه ده ، چې دا اسلامي وظیفه به دهر ډول حزبي، فرقه ئیزو ، سیمه ئیزو او نورو ملحوظاتو نه پرته د انساني توان په حدودو کې ترسره کوي . د مجلې یوبل مهم هدف د روسانو ، کمونستانو ، ملحدانو ، د هریانو او د اسلام دډول-ډول دښمنانو،چې د اسلام او اسلامي افغانستان په ضد په بیلا بیلو د سیسو ، پلانونو ، وحشتونو او نورو جنایاتو باندې بخت دي،د خلکو خبرول دي . ددې مجلی په مطالبو کې به د توان په اندازه دا هڅه وشي چی د ملحدینو هغه دسیسې او تیرایستنې رسوا شي چې د خپلو اهدافو او پلانونو د مأهیت او د خپلو ځانونو د واقعي هویت د پټولو لپاره یې کوي .

مونږ د خپل اسلامي جهاد په دې مرحله کې د ملحدو دښمنانو د ډیر ونیرنګونو

سره مخامخ يو ، له يوې خوا دوی زمونږ پر کورونو او کلو باندې دالوتکو په واسطه بمباري کوي او د سکډپه توغنديو مووليږخوله بلې خوا د منافقت له مخی په رنگ رنگ جامو د رنگ رنگ تزويرونو سره ښکاره کيږي او حتی د منافقت سره سم د تيرايستنې په مقصد د اسلام نوم هم اخلي . نو ددې لپاره چی دوی خلکو ته په واقعي څيروکې وښودل شي ډيرو خپرونو ته ضرورت دی ترڅوېې د جناياتو ټول اړخونه رسوا شي .

د «منبع الجهاد» مضامين او موضوعات له ټولو جهادي سنگرونو څخه دراپورته شوو پاکو اسلامي احساساتو ولولې او د اسلام په رڼاکې د ټولو موضوعاتو تحليلونه او توضيحات دي .

دا مجله د افغانستان ټول مؤمن او مجاهد ملت ته چې د خپلو سرونو په نذر کولو يې د خپل اسلامی هيواد له لمنې څخه د روسانو دلښکر و د تجاوز لاسو نه لنډ کړل او د روسي ايجنټانو تظلم ئې زوال ته نږدې کړی دی او د هيواد غرونو او ډاگونو ته يې په خپلو پاکو وينو سرخرريي ورربخښله ، د کاميابي زيری او د مبارکی پيشکش او سوغات دی .

همدارنگه په دې مجله کې به د پورتنيو موضوعاتو نه سربيره تر ممکن توانه پورې علمي او تحقيقي مقالې هم خپرې شي او د جهاد پر ټولو ابعادو به تحقيقي کتنې، تحليلي مضامين، مصاحبې، راپورتا ژونه او معلوماتي مضامين ولولئ .

دلته به هره مياشت کې هغه واقعيتونه او پيغامونه ولولئ چې مونږ ئې د خپل توان په حدودو کې د جهاد د ډگرونو په باب لاسته راوړو .

مونږ خپل دغه کلتوري جهاد د ټولومؤمنو ليکوالو سره يو ځای پرمخبيايو . د اسلامي جهاد سنگر يو دايمی سنگر دی هماغسی چی دهغو دښمنانو پر ضد سنگر کې يو چې د توپونو او ټانکونو سره د مسلمانانو د ربړولو ، کړولو او اذيت له لارو او يا په نورو طريقو د مسلمانانو دوژلو پسې دي دهغو دښمنانو په مقابل کې هم بايد غلي ونه اوسو چې په ډول ډول طريقو د اسلام په ضد فعاليتو نه کوي .

والسلام

هغوی پلانونه او کړنې

روسانو د افغاني ماشومانو لارې کولو ته برابر کړي وو

روسانو د دی خاوری د نیولو په هڅو کی د ماشومانو هغسې روزنې ته چې خپل دین ثقافت، او عقیده هیره کړي، له لومړی شیبې څخه هڅه او تکل پیل کړی ؤ، هغوی د پوځې یرغل په ټولو کلونو کی د دې مقصد د ترسره کولو لپاره پلانونه، پروګرامونه او دزده کړې ډول ډول نصابونه طرحه کړل او روسیه کی حزبی مؤسساتو کی د هغوی د روزنې لپاره ژورتکلونه وکړل، ځکه هغوی په دې پوه ووچې یوازې دیو داسې نسل د روز لونه وروسته د دې خاوری دولجه کولو په هیله بريالي کيدلی شي، چی اسلامي شعور او ملي احساس یې وژل شوی وي او حتی انساني حواس یې د دوی د عقیدې او د دوی د ارادې محکوم ګرځیدلي وي . د ماشومانو د تحریف او د اسلام پر ضد د هغوی روزنی ته شرایط ښه برابر وو ، ځکه چې کمونست نوکرانو یې خپل شعور او احساس د دې یرغلګر و د پلانونو محکوم ګرځولی ؤ او د هغوی ټول هدایات او ټول پلانونه یې د خپلې بقاء ضمانت ګڼل، نو د دې شرایطو په سیوري کې روسي پلان جوړوونکي په دې بریالي شول چې د ماشومانو د کمونست کولو د پراخ پلان لومړنی هڅې پیل کړي . دې هڅو څو بڼې درلودې: یوه دا چې د افغانستان د ښوونې او روزنې ټول سیستم د کمونستي تبلیغ او د اسلامي دیني احساساتو او پوهنو د کمزوري کولو لپاره استخدام کړي . بل دا چې ماشومان ترممکن حده پورې دروسیې د ننه د جلا دقیقو نصابونو د تطبیق سره تر روزنې لاندی ونیسي، څویې د بیرته ستنیدلو په شرایطو کې خپله عقیده، خپل تاریخ او خپل دیني او ملي احساسات هیر کړي وي او د کمونستي ماشین د داسې پرزو حیثیت یې غوره کړی وي چې د روسیې د پلان د تطبیق او د روسی تسلط د تأسیس نه پرته نور هیڅ ډول دیني، کلتوري، او ملي معلومات و نه لري .

کمونست رژیم د دغو روسي اهدافو د تطبیق هڅه پیل کړه چې ماشومان یا د تشویق له لیارې د روسیی خاورې ته د تللو لپاره چمتو کړي، یایې د فشار له لیارې دهغه پروګرام منلوته حاضر کړي . دا هغه غیر

انساني پلان ؤ چې روسانو د دې خاورې د نيولو په تكل كې واړه ماشومان له كورنيو څخه په بې رحمۍ سره بېلول او روسيې او يا نور و كمونستي هيوادونو ته يې دروسي كيدلو لپاره استول .

د دې لپاره چې ماشومان روسيې ته د تللو لپاره راضي كړى هغوى ته د روسي نوكرانو له خواپروسيه كى د ښو خوراكونو ، سينماگانو ، فيشني هوټلونو او ليليو مفتونه كيدل څو هغه واړه ماشومان د احساساتو تراغيزى لاندې تيرايستل شي . دا د صفتونو بيانيې په ښوو نځيو او حزبي ادارو كې ور اورول كيدلې او وعدې وركول كيدې چې هلته به دوى ټولې غوښتنې او اسانتياوې په خپل واك كې ولري . په ښو ونځيو كې سر بيره پر هغه چې صنفونو كى دروسيې دسيمې او ښارونو صفتو نه په افراطي توگه روان وو ، په اكثر و وختونو كى به كمونستو سرښوونكو ، ښوونكو او نورو كمونستو مسؤلينو ماشومانو ته په مختلفو وختونو كى دهغو وړو ملكانو چى روسيې ته تللي وو، رنگا رنگ تبليغى او تير ايستونكي عكسونه ښودل چې يابه د گلانو په رنگينو باغونو كې گرځيدل او يا به په ډيرو ښكلو قصرونو كې د خندا او هو سايني په حالت كې ليدل كيدل .

د روسانو په دسيسو كې ډير رسوا تعامل دادى چې دوى د خلكو د تير ايستلو لپاره په ماهرانه ډول پر واقعيتونو پر ده اچولى شي . روسانو به هغه نيټه پټه ساتله چې روسيې ته د تللو لپاره واړه ماشومان ټاكل كيدل ، ترڅو ميندې او پلرونه د خپلو وړومانع نشي ، يا ماشومان پخپله د هغو گلانو او باغونو له ليدلو سره ـ سره له تللو څخه انكارونه كړي .

اكثر و وړو ماشومانو به د هغه هيأت غړي چې واړه يې د روسيې دتگ لپاره انتخابول ، آدم خواره گڼل او كله به يې چې هغوى د ښوونځې د ننه وليدل د صنفونو د شالوري كړكيو څخه يې ځانونه او د كتابونو بكسونه غور ځول او له هغه ځايه به تښتيدل .

د دې زده كړو لپاره به يوازې او وه كلن ، اته كلن او نهه كلن هلكان ليږل كيدل چى يا به د كمونستانو زامن او يا د داسې پلرونو زامن وو چى د كمونيزم په ماهيت ، تيوري او واقعيت پوه نه وو او دروسانو پلانونه ورته معلوم نه وو .

ماشومان به چې روسيې ته لاړل هغوى ته به ويل كيده كله چې دوى د افغانستان په بشپړه نيولو بريالي شى دلته به هم ماشومانو نجونو ته په سوونو ښكلى ناوكۍ، دلوبو شيان او ښكلي كورونه وركړې .

په افغانستان كى به يې هغه ماشومان وخت په وخت په تلو يزيون كې ښودل چى روسيې ته د تعليم لپاره په اووه كلنۍ او اته كلنۍ كې ليږل شوي وو . په هغو فلمونو كې يې هغوى د ډيرې خوشالۍ په حال كې ښودل ، څكه چې دا د روسانو د هغې پاليسۍ هلې ځلې دي چى د خلكو د ماغزو د پريمنځلو لپاره د حقايقو د تحريف له لياره كيږي .

ماشومان به په ښو ونځيو كې مجبور و گرځول شول چې په كمونستي تنظيم كې چى د پيش آهنگانو ټولگى بلل كيږي ، داخل شي ، د هغوى نه نسبتا مشران د ځوانانو سازمان ته معرفي كيدل . دا هڅې هم دهما غسې هڅو دلړۍ يوه برخه وه چې هغوى ته د روسي الحادي كلتور څخه پر ته بل څه و نه ښو دل شي . كمونست ملحدين پرته له روسي الحادي كلتور څخه نور هيڅ ډول ديني ، اخلاقي او ملي معيارونه ، نه مني .

د هغوى بله تيرايستنه داوه ، هغو ماشومانو ته چې روسيې ته دالحادي تعليم لپاره استول كيدل ، ويل كيدل

چې هغوی به یوازې درې میاشتې هلته پاتې شي ، خوله
در یو میاشتو څخه وروسته به هغوی په دې پوهیدل چې
هلته به دلسو کلونو لپاره دالحاد او روسي کیدلو په
تعلیم بوخت وی .

په ۱۳۶۳ هـ ش کال کې روسیې او کمونستونو کرانو
یې یو پلان پیل کړ چې د هغه سره سم ځوانان د روسي
کلتور د زده کړې لپاره د زرگونو په شمیر روسیې ته
ولیږل شي . د همدغه پورتني کال د ثور په میاشت کې
د روسي کمونستي پلان یو بل گام هم په دې ډول
کیښودل شو چې په کابل کې د روسیې د الحادي روزنې
یو مرکز د وطن پالنځي ، په نامه جوړ شو او د هغوی د
کمونستو نوکرانو د مشر یعنی ببرك ښځه یې مشره
مقرره شوه . دغه مرکز په بشپړ ډول د کمونستي
ایدیالوژۍ د ښودلو مرکز ؤ او له کمونستي ښو د نو
څخه پر ته یې بل هدف نه در لود . هغوی د کمونیزم او
روس پیژندنی څخه پر ته نور مضامین نه در لودل .

د روسانو او دهغوی د نوکرانو هیله داوه چې دغه
هلکان د اسلام او اسلامي ثقافت پر ضد وروزل شي .
ددغه مرکز شاگردان د هغو ملحدو کمونستانو زامن
ووچې پلرونه یې د اسلام د مینانو له خوا د کفر او
الحاد په جرم د جهاد په میدانونو کې وژل شوي وو یا
هغوی د بې عقیدې پلرونو یا کمونستي نوکرانو زامن وو
له هغوی څخه د اسلام واقعیت او د اسلام سپیڅلي
هدفونه پټ ساتل کیدل . کوم هلکان به چې هلته د
الحاد او روسي کلتور مینه کې باندې وو سم له لاسه به
داوړ دې مودې لپاره د تعلیماتو د قرارداد سره سم د
زیاتو کمونستي معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره روسیې
ته استول کیدل . دا سلسله دهغه پلان څنگ کې مخ په
وړاندې وړل کیده چې له نو روښو و نځیونه استول
کیدل .

د روسانو دې ډول پلانونو ته د رژیم د کمونستانو د
زړه له کومي خدمتونو او هلو ځلو ډیره گټه رسوله .
رژیم به دځوانو او تنکیو هلکانو پلرونه تهدیدول چې که
روسیې ته د خپلو ماشومانو په لیږلو کې تو افق و نه
ښیي هغوی به د کمونیزم او د رژیم پر ضد د دسیسه
کارانو په توگه محاکمه او زندانونو ته به و استول شي ،
حتی ځینې هلکان به په پټه د مور او پلار له خبرید و
څخه پرته روسیې ته استول کیدل . لومړنۍ منظمه ډله
دلس کلنې دورې تحصیل لپاره په (۱۳۶۳ هـ ش) کې
واستول شوه . د هغوی د لیږل کیدلو پروگرام دیو ـ
ضروري پروگرام په ډول منل شوی ؤ ، ځکه کله چې د
جنگ د میدان په هره برخه کې د ماتې سره مخامخ
شول ، نو د خلکو د روسي گرځولو پلان یې ډیر چټك
کړ ، ترڅو په دې وسیله خپله ماتې جبران او د دې
خاورې په نیولو بریالي شي .

کله چې روسانو ولیدل چې د اسلام پاك احساس توپ او
ټانك په ډیرې اسانۍ سره له منځه وړي،نو په یوه عاجله
غونډه کې یې پریکړه وکړه چې خپلې ټولې هڅې د
داسې یو نسل مینځ ته راوستلو ته واړوي چې د هغوی
اسلامي احساس له مینځه تللی وي او د اسلامي تعلیماتو
اسلامي شعور ، اسلامي فرهنگ او اسلامي صفاتو څخه په
بشپړ ډول بې برخې او محروم وي . روسیې ته دلیږل
کیدلو خواکې د پالنځیو پروگرام ته سرعت وبخښل شو
او د وطن پالنځی نه سربیره چې د دې ډول پروگرام د
تطبیق لومړنی مرکز ؤ نور پالنځایو نه او دروزنی
پروگرامو پیل شول چې په مستقیم ډول دخاد او «کې ،
جی بی ،» له خوا اداره کیږي .

په دغو پالنځایونو کې څوك په دین او د دین په اهدافو

او تعلیماتو نشې خبریدلی . د اسلام پر ضد د روسانو تخریبي فعالیت یوازې په هغو تعلیمي مرکزونو کې منحصر پاتې نشو بلکه دا څخه د ټول هیواد د تعلیمي نصاب د بیخي بدلولو او دهغو مضامینو د حذف پروگرام کې هم عملی شوه چې خلکو ته یې دینی پوهنه او یاملي شعور ورکاوه . په افغانستان کی اوس ټول ښوونځي هغه منظم پوگرامونه نه لری چې د یو هیواد دپر مختګ لپاره ضروري ګڼل کیږي . اوس هلکان په زوره او یا د هغوی د بی شعوری له کبله د کمونستی ساز مانونو له لیارې د کمونستي الحادي پلانونو او د پروگرامونو د حمایت او پرمخبیو لو لپاره د مجاهدینو پر ضد د جنګ میدانونو ته استول کیږي،ددی هلکانو زیات شمیر هماغه هلکان دي چې له روسیې نه د دې هدف لپاره په عاجل ډول بیرته راوستل شوي . . د داخلی ښوونځیو نه کوم شمیر چې د جنګ له میدانونو نه بیرته ژوندی ورسنیږی، بې له دې چې امتحان ورکړي لوړ صنف ته خیږ ول کیږي . له همدې کبله داسې ځوانان سر بیره پر دې چې له اسلام او اسلامي صفاتو څخه په بشپړ ډول بی خبره او محروم وی د سوادنه هم بی برخې وي او په دې ډول اوس په هغه هیواد کی داسې یو نسل د رامنځ ته کیدو په حال کی دی چې د ټولو دینی، اخلاقي، کلتوري او ملي شعایرو څخه بې برخې دي .

هغه ځوانان چې د روسی یرغلګرو د بیرته شړل کیدو نه وروسته دلته راغلي د هر ډول پوهې او پوهنی نه بې برخې دي، د هغو د دولسم ټولګی زده کوونکي دلته د سواد امتحان نشي ورکولی . دا دهغه پروگرام نتیجه ده چې د یوبې دینه، بې احساسه، بې شعوره او بی کلتوره نسل د روزلو لپاره د روسانو له خوا پیل او دهغوی د نوکرانو له خوا په ډیر شوق پر مخبیول کیږي .

د کمونستو پلرونو زامنو ته د وطن پالنځی په څیر نور ښوونځي هم شته چې په هغو کی داسې نصاب ښودل کیږي چې د کمونیزم او روس او د الحاد له موضو عاتو نه پر ته نور موضوعات نه لوستل کیږي . البته په نورو ښو و نځیو کې د الحاد څخه ډکې د دین پرضد ویناګانې په اسانه نشي منل کیدای، خو دا خاص پروگرام په ښوونځیو کې د عمل په پوره سرعت پرمخ وړل کیږي .

د دې تعلیمي مرکزونو نصابونه او پروگرامونه د اکثرو خلکو له نظره له دې و یرې څخه پټ ساتل شوي چې د هغوی په مقابل کې په دولتي ادارو کې مخالفت و نه ښودل شي، خوهغه پروگرام د غړونو له پورته کولو نه پرته په ډیره بیړه پرمخ بیول کیږي . کوم قرارداد چې روسیې ته د کمونستي تعلیم لپاره د کوچنیانو او ځوانانو د لیږلو لپاره د روسانو سره لاسلیك شوی ؤ ، پکې ویل شوي چې روسیه به هرکال اقلاً دوه زره تنه افغانان د زده کړو لپاره ومني او ویل شوي وو چې دا پروگرام به لس کاله دوام وکړي .

د قرارداد د مطالبوله مخې روسانو غوښتل چې د هغو پروګرامونو په مرسته د کمونستي الحادي کلتور ، کمونستي فکر او کمونستي عزم او تکل نه پر ته بله اراده او عزم تبارز و نکړي

د وطن پالنځي، یعنې د کمونستي زده کړو مرکز ډیر انکشاف وکړ چې په ولایاتو کې د نورو متعددو ځانګو د تأسیس نه سر بیره په مرکز کی یوه مؤسسه یې په وزیر اکبر خان مینه کې او بله ځانګه یې په دریمه کارته کې په فعالیت بوخت شوه .

هغه هلکان چې د ورسیې ترتسلط لاندې خاورې ته استول کیدل اکثره د نورو روسانو نه لیرې ځایونو کې

تر روزني لاندې نيول كيدل . د روسانو يو بل لوى جنايت هغه پروگرام دى چې هغو هلكانو ته چې عمر- ونه يې دلسوكالونه تر څوارلس كالو پورې وي د جاسوسی روزنه وركوي . روسان او د روسانو كمونست نوكران دا سې هلكان د شپږو مياشتو لپاره روسيې ته ليږي چې جاسوسان وروزل شي ، د شپږ و مياشتو نه چې وروسته بيرته راشي مختلفو ځايونو ته ليږل كيږي چې معلومات ټول كړي .

روسانو د افغانستان د مسلمان ملت په مقابل كى د هيڅ ډول جنايت څخه ډډه نه ده كړي . زموږ د مسلمان ملت د مقدس جهاد په ټوله مو ده كې د دوی هڅه ، د دوی عزم او تصميم دا پاتې شوی چې د مجاهدينو په صفونو كې ماتې راشي او دغه اسلامي هيوادهم د مركزې آسيا د نورو اسلامي هيوادونو په څير د دوی تر تسلط لاندې څمكو سره وصل شي . كله به چې د جنگ په ميدانونو كې د زړورو مجاهدينو له خواورته ماتې وركړل شوه ، نو بيابه يې د كليو او بانډو بمباري ، د خلكو عام قتل او د كليو او ښارونو و يجاړولو ته اقدام كاوه او تراوسه پورې هغه پاليسي روانه ده .

نن چې زموږ د هيواد هره برخه ، هر گوټ او هرځای وران او ويجاړ شوی د روسانو او نور كمونستانو د غير انساني مظالمو نتيجې دي .

د افغانستان مسلمان ملت د خدای په مرحمت په دې باندې بريالی شو چې د دغو ټولو جناياتو ، چې پورته يې يادونه وشوه جرړې د روسانو په شړلو و باسي ، خوهغه هيواد لاهم زموږ د مسلمان ملت په مقابل كې د جنگي غير انساني جناياتو څخه لاسونه نه دې اخيستي ، څكه چې د هغوی امپر پاليستي او د پراختيا غوښتني پاليسي نه ده بدله شوې . هغوی هره ورځ زموږ د مسلمانو مجاهدينو د شهادت نوې د سيسې سنجوې اوهره ورځ ډيرې پر مختللې وسلې خپل مزدور كمونست رژيم ته وركوي ، چې دهرې ورځې وسلې د تيرې ورځې څخه پر مختللې وې او د تخريب ساحه يې هم زياته وې . نو كه څه هم روسان په ظاهري ډول له دې هيواد څخه وتلي ، خو په حقيقت كې زموږ د خلكو په مقابل كې خپل جنگي جنايات له بهر څخه په هماغه شدت پرمخ بيايي ، لكه څرنگه چه هغوی پخپله په فزيكی ډول په جبهاتو كې زموږ په مقابل كې ولاړوو ،

د روسانو په هغو نيتونو كې چې د هند سمندر ته دعربو د سمندرگي له ليارې ځان ورسوي كوم ډول توپير نه دی راغلی ، نوځكه دا يو څرگند واقعيت دی چې زموږ په اسلامي وجايبو كی چې دكفر او الحاد د تيريو او د سايسو په مقابل كې يې لرو هيڅ ډول توپير نه دی راغلی . زموږ مقدس جهاد به تر هغه پورې دوام وكړي چې پخپل هيواد كی د كمونستي الحاد دسيسې شنډې او د روسي جناياتو نښې نښاني وركې كړو . د افغانستان ملت يو مسلمان ملت دی چې جهاد يې دالحاد پر ضد له لومړې وخت څخه د اسلام په مينه پيل كړی . د دې پاكې او مقدسې مينې په لار كې قرباني د دې ملت سعادت او كاميابي ده ، نو ځكه د اسلام حاكميت ، د اسلام تسلط ، د اسلام كاميابي او په اسلامي ليارې باندې د خلكو د ژوند سمبالښت د ټول مسلمان ملت هدف او غايه ده . زموږ اسلامي عقيده له موږ څخه داغواړي چې هغه مفاسد چې ملحدينو زموږ د ټولنې د اسلامي عقيدې او اسلامي فرهنگ د شنډولو او محوه كولو لپاره پيل كړې او ترهمدغه وخته پورې يې جاري ساتلي ، محوه كړي .

كمونستانو زموږ د هيواد ټول تعليمي نصابونه د

کمونیزم د ترویج او تقویې په مقصد او د اسلام د محوه کولو په منظور جوړکړې له همدې کبله زموږ اسلامي عقیده له موږ نه د جهاد تقویت او د اسلام د دښمنانو د پلانونو ، پروژو ، ساز شونو او د تصمیمونو پرضد مبارزه سر ښندنه او قرباني غواړي . زموږ جهاد به دهغو ټولو د ښمنانو په ضد دوام وکړي چې د اسلام د محوه کولو ، کمزوري کولو ، تحریف او غلط تعبیر هڅه کوي . لکه څرنګه چې د اسلام تاریخ ښيي هغسې خلك د اسلام په صدر کې هم موجودوو چې د ظاهر له مخې یې د اسلام د عواګانې کولې،خو په حقیقت کې یې د کفر او شرك د کامیابولو لپاره د مسلمانانو پر ضد سازشو نه کول . زموږ او سنۍ ټولنه هم باید هغسې د سیسوته ملتفت وي . هر هغه څوك چې د ببرکیانو او نجیبیانو او د روسانو اهدافو ته فعالیت کوي ، په هره جامه کې چې وي ، د هغه د اسلام ضد اعمال زموږ د اسلامی انقلاب د پاکو او مقدسو مرامو نو په ضد دي .

زموږ عقیده له موږنه دا غواړي چې د دسیسو په مقابل کې ویښ و اوسو هغه قوتو نه چې د اسلام دین د خپلو ګټو ، د خپلو لارو ، د خپلو کړ ووړو په لاره کې یو مانع ویني اوس هم په نړۍ کې په لوی اکثریت کې دي ، نوځکه زموږ اسلامي مسؤلیت زیات دی او زموږ په جهاد کې باید په کمي او کیفي لحاظ هیڅ توپیررانه شي د مسلمانانو جهاد به تر هغه وخته پورې دوام ولري،ترڅو چې د خدای دین غالب شي . هر مسلمان باید د ژوندانه په ډګر کې د مخالفینو ، د ښمنانو او د باطلو افکارو او اعمالو د خاوندانو ارادې او فعالیت و څارې او د هغو د ناوړو غوښتنو او د سیسو پر ضد جهادي عمل وکړي . موږ ټول د اسلام دساتنې او تعمیم مسوولیتونه لرو او امکان لري چې زموږ دښمنان د دوستانو په جامو کی ځانو نه وښيي ، خوموږ باید هغوی وپیژنو او اعمالو او اهدافو ته یې ځیر واوسو . زموږ دښمنان ډیر زیات دي او دهغوی مکر او دسیسې هم ډیرې بڼې لري ، کله د اسلام دعواګانې کوي ، کله اسلام ته د خدمت ، کله اسلام ته د احترام او کله کوم بل ډول دعوی کوي ، خو موږ ته ښایي چې د هغوی په دسیسو تیر نه وځو ، د هغوی دا ډول شعارونه او د دې ډول ادعاګانو اهداف تحلیل کړو او بیاد سلیم تحلیل په رڼاکی دهغوی په مقابل کی دریغ غوره کړو .

اسلام له موږ نه په هره مرحله کې ایثار او قرباني او د قربانۍ له جزبې سره د خدمت تقاضا کوي . زموږ وظیفې او مسوولیتونه درانه دي .

روسي الحاد په افغانستان کی د خلکو د اسلامي عقیدې پر ضد ډیر جالونه خواره کړي دي . د «خاد» او «کی جی ، بی» ګډ فعالیتونه غواړي چې د جهاد د صفونو خپل منځې مینه او صمیمیت زیانمن کړي . دا دټولو مجاهدینو او ټولو مسلمانانو فرض دی چې د نفاق ، فساد او تخریب پر ضد دعالي اسلامي احساس په مینه و جذبه جهاد او مبارزه وکړي .

منبع العلوم مدرسه

د یولوړ تعلیمي مرکز په حیث

منبع العلوم یوه لوړه دیني مدرسه ده چې د میرامشاه سرحدي سیمه کې د میرام شاه ښار ته نژدې د هغه ځای په یوارت میدان کې موقعیت لري .

په دې کی شك نشته چی د میرامشاه د سیمې کتل هر چاته د طبیعي مناظرو له کبله خوښی او فرحت بخښی خودا ځای یو افغان مهاجر ته له دې امله هم خوږ او په زړه پورې دی چی یو خود افغانستان خاورې ته نژدې پروت دی اوپه‌یخو بادونو کې یې د وطن دلوړو غرونو او ارتو دښتو د ګلانود عطرونو وږمې د مهاجرو د قافلو غوندې جوپې ، جوپې را رسیږي او بل داچې هلته د دینی علومو دلوړو تحصیلاتو دغه عالي مدرسه او علمي مرکز موقعیت لري ، د دې مدرسې علمي منزلت له دې نه هم په روښانه ډول څرګندیږي چې دلته اوس په روان وخت کې او وه سوه (۷۰۰) تنه طالبان دعلومو په تحصیلاتو بوخت دي . همدارنګه پنځــو س تنه د قرآن عظیم الشان په حفظ هم بوخت دي.د عظیم الشان قرآن د حفظ درس ګاه د منبع العلوم د مدرسې یوه بنیادي او اساسي څانګه ده او حفظ په اکثر ډول د نورو دیني علومو د تحصیلاتو نه مخکې تکمیلیږی.د حفظ دوره دوه کاله ده اکثر طالبان هیله لري مخکې له دې چې دعلومو دلوړې دورې په تحصیلاتو پیل وکړي د حفظ دوره یې باید تکمیله کړې وي،ځینی نور د حفظ درس د نورو درسونو سره یوځای پرمخبیایي . د مدرسې تدریسي نصاب په ډیر غوره ډول برابر شوی دی ، د دې تعلیمي نصاب

تصنیف ته یوه کتنه را نبسیي چې دا مدرسه به بې له
شکه زمونږ د اسلامي هیواد علمي خدمت ته هغسې عالمان
وروزي چې هم د خدای جل و علی شانه کلام و ریاد
وي اوهم د قرآني نصوصو د عبارة، دلالة، اشارة، او
اقتضاء د فتهی تحلیل او تدقیق علمی پوهه ولري. د
مدرسې نصاب او د نصاب تصنیف ډاډ راکوي چې دا
مدرسه به د هغو ټولو مدارسو سره چې د دیني تعلیماتو
په مقصد مهاجرو افغانانو ته د جهادي تنظیمونو له خوا
پرانیستل شوي زمونږ اسلامي هیواد چی د روس او د
هغوی د ملحدو نوکرانو د وحشت له کبله د بې علمی
تیارو کې دي د دیني علومو په روښانو پلوشو روښان
کړي، د منبع العلوم د مدرسې د طالبانو دیني شوق او
د دیني مسؤلیت عالي احساس دا زیری را کوي چې نور
به اسلامي علوم په هغه اسلامي هیواد کی د حکمرانانو
د اغراضو د ترسره کولو آله نه ګرځي او له هغه ځای
نه به د کمونیزم او الحاد تغر د تل لپاره ټول شي.

زمونږ پراسلامي هیواد باندې د کمونیزم د تباه کوونکي
آفت راتګ د علماؤ په تبلیغ او علمي وظایفو باندې د
عیاشو او منحرفو حکمرانانو له خوا ممانعت او دهغوی
د جنایاتو نتیجه وه. د کمونستانو د راتلو نه مخکی هم
د شاهانو د حکومتو پالیسو له کبله چې د دین او د
دیني علومو د ودې په مقابل کی یې یو ډول خاص
حساسیت د رلود د دیني علومو تدریس د سختو محدود
یتونو سره مخامخ ؤ چې د ملحدینو د تسلط سره د دیني
علومو تدریس هم له مینځه یوړل شو او ملحد رژیم د
روسي ملحدینو په مرسته هڅه کوله چې د ټول
افغانستان نه دیني علوم محوه کړي حتی مساجد یې
وران او مدرسو ته یې داسې درسي پروګرامونه وضع کړل
چې د کفر، الحاد او د اسلام د دښمنی تعلیم نه پرته
یې بل هدف نه درلود . له همدې کبله د منبع العلوم
مدرسه او د منبع العلوم غوندې نوری دیني مدرسې چې
اوس افغانانو ته د دیني علومو په ښودلو بوختې دي هر

افغان ته دازیری دی چی زمونږ په هغه تیارو ځپلي هیواد کې به چې لومړی پکې دبې لارو او عیاشو واکمنانو له خواد دیني علومو د ډیوو دوژل کیدلو پټې او ښکاره هڅې شوې وې او بیا هغه ډیوې د کمونستو ملحدینو له خوا په ډیره بې رحمۍ مړې شوې وې، دی مدرسونه داسلام روښانه پلوشې خپرې شي .

د دې مدرسی صدر مولوي عزیز خان دی چی یوستر عالم، مفسر ، محدث اوفقیه دی . نو موږي خپل علمي تحصیلات داکوړې په حقانیه مدرسه کې کړی دي.مولوی عزیز خان د اداري مسؤلیتونو او وظایفو سره سره د حدیثو تدریس هم کوي . دی هغه لمړنی مجاهد دی چی د خلقي ملحدینو په ضد یې د پکتیا زیړو کې علاقدارۍ کې د جهاد اعلان وکړ او د ده د جهاد د اعلان د تبلیغ سره سم د حضیری نه چیرته چی ده وعظ کاوه ټول حاضرین په علاقدارۍ ورغلل او علاقه دار او نور ټول کمونستان یی و وژل.د منبع العلوم اکثر و مدرسینو خپل علمي تحصیلات د اکوړې په حقانیه مدرسه کې کړي دي او د هغې مدرسې د درسي نصاب د مفیدیت د پوهیدلو سره د دې مدرسې د دیني نصاب علمي دورې اوصنفي اصول تر زیاتې اندازې پورې د هغې مدرسې نصاب او علمي دورو ته ورته اوومماثل دي . دلته د دې مدرسې هغه طالبان چې د کبارت عمرونو ته رسیدلي او یاپه وسلې سره جګړه کولی شي د کفر او الحاد په ضد په وسله وال جهاد کې په ډیر شوق او پوره میړانه وخت په وخت برخې اخلي،نو ویلای شو چې دا مدرسه د علمي مرکز د حیثیت درلودلو سره سره د مجاهدینو د نورو مرکزونو غوندې یو جهادي مرکز هم دی. محصلینو ته په عمدې وجه په مدرسه کی د عسکري د روسو دښودلو بندوبست هم شوی څو دا طالبان چې ورروسته به د اسلام د پاکې لارې دلار ښوونی مسؤلیت ولري د دښمنانو په مقابل کې هر ډول چمتووالی ولري . د دې مدرسې د مشخصاتو په ښودلو کې ویلای شو چې دا مدرسه د مجاهدینو د دیني تحصیلاتو عالي مرکز او د جهاد د کامیابۍ لپاره د ضروري نظامي تاکتیکونو او مهارتونو د زده کولو یوه عالي مؤسسه او عالي اکاډمي ده . د دې مدرسې هر طالب العلم مجاهد او د حق سنګر کې د دینی علومو او عسکري فنونو په تجهیزاتو مجهزاو سنبال دی په دې مدرسه کې د دیني علومو تحصیلات د فقهی،صرف، تجوید او عقایدوله لومړنیو کتابونو څخه شروع کیږي او د درسي تفاسیر و په اختتام او د صحاحو په مکمله دوره پای ته رسیږي.دلته د تفسیر ، حدیث ، صرف ، نحوه فقهي ، تجوید ، عقاید ، بلاغة ، اصول الفقه ، منطق ، حدیث او تفسیر تحصیلات بشپړ کیږي . په دې مدرسه کې زمونږ خبریال د مدرسې دکتلو په وخت کې د ځینو هغو یتیمانو سره مخامخ شو چې پلرونو ته یی په جهاد کې د شهادت لوړ مقام په برخه شوی ؤ.د داسې یتیمانو شمیر په اوس وخت کی په مدرسه کې د پنځوس تنونه زیات دی . په دې مدرسه کې د مدرسینو شمیر دوه ویشت تنه دی په مدرسه کې متعلمینو ته دا عاشې او اباتې اسانتیاوې هم شته او طالبان یوازې د جمعې په شپو کې خپلو کورونو ته تلی شي. یوه خبره چې د مدرسې د لیدلو په وخت کی د خبریال د زیات ممنونیت سبب شو دیو دولس کلن یتیم هلك لیدل ؤ چې د قرآن کریم حافظ ؤ . دغه یتیم سمیع الله نومیده او قرآن مجید یی په یوولس کلنۍ کې په بشپړ ډول حفظ کړی ؤ او اوس د منبع العلوم د مدرسې په دارالحفاظ کی د کلام الله المجید د حفظ په دوره بوخت ؤ . نوموړی یو ذکی ، حساس او ځیرك هلك

ژ چې د خبرو د ټولو آدابو رعايت ته ځير ژ ، دده د خبرو او ځوابونو طريقې دده عالي تربيه او فکري ذکاوت په پوره وضاحت ښوده .دی د يو دولس کلن فاميل غړی ژ چې د دوی د چارو پاملرنه او د نفقی تدارك د ده مشر ورور ته چې په کوم عربي هيواد کې کار کاوه، ور په غاړه ژ . کله چه د منبع الجهاد خبريال ورنه پوښتنه وکړه چې د علومو له تحصيل نه وروسته به د ورور سره د کور خرڅ کی اوږه ورکړی که نه ؟ هغه موسکی شو او و يی ويل:د کور له خرڅ ځخه ماته او زمونږ ټولې کورنۍ ته زمونږ په اسلامي هيواد کې د کفر او الحاد په ضد جهاد ډير ضرور دی.

ده د خبريال د دې پوښتنې په ځواب کې چې دی به کوم ځای کې جهاد کوي سم له لاسه وويل چې زه به هر ځای کی د حاجی صاحب (حقانی صاحب) سره ځنگ په ځنگ جهاد کوم. له سميع الله سره زمونږ د خبريال مرکې داسې دوام وکړ :

خبريال : سميع الله خانه ! چې زلمی شوې د نورو قوماندانانو سره ولې جهاد ته نه ځی ؟

سميع الله : ماته حاجی صاحب د پلارمينه راکوی د خلکو خپل پلار چې مجاهد وې د بل چاسره به ولې جهاد کوی .

خبريال: د طالبۍ په وخت کی به هم جهاد ته ځې که نه؟
سميع الله : هو! جهاد په هر چا باندې چې زلمی وی فرض دی . د دغې لنډی مرکی نه وروسته د خبريال پام يو بل ماشوم طالب ته وا وښت چې داسې ښکاريده چې غواړي د خبريال سره خبرې وکړي.دا کمکی طالب چې د يو ځلاند° مستقبل په تکل کې او خپل اسلامي هيواد ته دلوړو ديني خدمتونو د ترسره کولو لپاره یې ملا تړلی وه يو بل ماشوم يتيم ژ چې پلار يې د حق سنگر کې ترهغه وخته پورې جهاد وکړ څوځپل سرېې د اسلام د مقدس دين نه قربان کړ. د دې کمکی هلك نوم محمد فاروق او د شهيد مولوي احمد گل زوی ژ چې مولوی صاحب د لژې په جهاد کې د اسلام په مينه کی وروسته د ډيرې ميړانې ځخه شهيد شوی و او دغه کمکی هلك د روسانو وحشت د پلار له مينې او ناز ورکولو ځخه محروم کړی محمد فاروق يو خندان او ذکي هلك ژ او په يتيمی کې يی ډير ځپلی او اسکيرلی حالت نه درلود، ځکه چې ديو ډير مهربان تره مينې او محبت دی د خوارۍ او غمونو نه ليرې ساتلی ژ . ده د خبريال هرې پوښتنی ته په ډير احترام سره ځواب ورکاوه . مولوي صاحب د ژوندانه په ټولو مودو کې د اسلام يو ستر مجاهدو . نو د يتيم زوی په څيره کې يې د پلار د ثبات او متانت آثار په څرگند ډول بريښيده . ده هم د سميع الله غوندې د خپلو تحصيلاتو لوړ هدف د کفر او الحاد په ضد جهاد و ښود او په همدغه ماشومتوب کې يې هم د جهاد سنگرته د جهاد د صحنې ليدلو ته د تللو شوق درلود او داسې ښکاريده چې د راتلونکې وخت لپاره يې له اوس نه ځان چمتو کاوه . کله چې خبريال ترې پوښتنه وکړه چې دی به د ځوانۍ په مرحله کې د علم له حاصلولو نه وروسته څه وکړي؟ نوموړي هم په ډيرې لوړې جذبې سره وويل چې له جهاد نه پرته بله آرزو نه لري . محمد فاروق اوس د منبع العلوم مدرسه کی دلومړنيو کتابونو په زده کړه او دقرآن کريم په حفظ بوخت دی. د مدرسې استادانو هم شاگردانو ته به تدريس مصروف وو ، وخت ډير کم او د معلوماتو د تر لاسه کولو تلوسه زياته وه خو د پورتني ملحوظ په پام کی نيولو سره مو مولوی شاهان صاحب سره، چې د صدر په غياب کې د صدر وظيفې هم ترسره کولې او صدر صاحب په دې ورځ چې زمو نږ خبريال هلته ژ، کوم علمي کنفرانس ته د رسمي بلنې په اساس تشريف وړی ژ،خدای پاماني وشوه .

د افغانستان پولو ته د ور رسانو

د رانژدې کیدلو لنډه تاریخچه

د هغو تیر یو او برید ونو تحقیق او مطالعه چې روسانو د آزاد و هیوادونو دنیولو لپاره پیل او پر مخبیولي،او همدارنگه دهغو تاکتیکو نو څیړنه چې د دوی واکمني یی دارو پاله ختیځ څخه د آسیاتر زړه پورې، زمونږ پرهیواد باندې د بریدلو رې ته راو رسوله په حقیقت کې د بی شمیر و عامو قتلونو او دکلیو او ښارونو دورانولو، سوځولو او لوټولو د دردوونکو پیښو مطالعه او څیړنه ده چې د آسیا ددې برخی په لور بریدونو کې یې کړي .

هغه خلك چی په تاریخ کی یې د لومړي ځل لپاره د روس په نامه شهرت و مونده د سلاو، فن او نورز د خیلونو له غړ و څخه یوه گډه ټولنه وه . د دې خلکو سیاسي ژوند په هغه سیمه کې دیر غلونو، بریدونو اولو ټولو سره پیل شو، دوی د هماغه لو مړي وخت څخه په دې هڅه کې ووچې د نورو آزادو هیوادونو د سیمو په نیولو خپله سیمه او خپله واکمني پراخه کړي .

د دې ډول اعمالو یو مثال د بردیې د ښار هغه دردناکه سرنوشت د یوې بیلگې په توگه یادولی شو، چی روسانو سوځولی ؤ . روسانو دبردیې ښار چې د آذربائیجان پولوی او ښکلی ښارؤ او د آسیا یو لوی تجارتی مرکز هم ؤ د ۲۸۱ او ۲۸۳ هـش کلونو ترمینځ یی داسی وران کړ چی هیڅ اثریی نه ؤ پاتی شوی . ابن حوقل چی دهغه وخت یونامتو مؤرخ او سیلانی ؤ د ښار له ورانیدونه لږڅه وروسته یی هغه ځای ته سفر کړی ؤ او خپلو کتنو نه وروسته یی لیکلی ووچی له یوزر او دوه سوه تنو نامتو سوداگرانو څخه چی په دغه ښار کی یی ژوند کاوه یوازی پنځه تنه له عام قتل څخه په تیښته بریالي شوي وو . دا د هغه ښار د سوداگرانو شمیر ؤ چې د همدې له مخې د نورو کسبگرو، بزگرانو، هټی-والو تخمین هم کیدای شي .

د روسیې ننني امپراتوری د هماغو پرله پسې عامو قتلونو، تاړاکونو او ویجاړولو نتیجه ده چې دزرو کالو

څخه هم د زیاتې مودې راهیسې دوام لري . دایر غلونه ختیځو او لویدیځو خواوته کله په یوه پلمه او کله په بله پلمه په مخه وړل شوي .

ددې بریدو نو د لومړنیو علتونو په پلټنه کې مو داسې وینا ترسترګو کیږي چې ویل یی: د نوو ځمکو نیول د روس د سرحدونو د حفاظت لپاره ضروري دی . یادا چې دوی د هغو ټولو سیمو دنیو لو حق لري چې طبیعي جوړښت او موقعیت یې دا ایجابوي چې باید دروسیې برخې وي .

کله یې داسې ادعا کړې چې د تمدن د ګټو د رسولو په هیله نوې ځمکې نیسي او یایې ویلي چې د نیول شو و ځایونو د خلکو له خوا بلنه ورکړ شوې چې هغه سیمې ونیسي . داناوړه دلیلونه د ختیځې اروپا دهیوادونو لکه د پولینډ ، لیتوانیا ، ملد او یا او ګرجستان دنیولو په وخت کې هم ویلي دي . دا دلیلونه د دوی د هیوادونو دنیولو لپاره هغه وسیلې دي چې اوس هم ترې کار اخستل کیږي . کله یې ځینې برخې خاص د دې اعلام سره نیولي چې نوموړي ځایونه په جغرافیایي لحاظ د روس برخې دي . کله یې د کوچنیو هیوادونو نیول د خپلې پراختیا په اعتبار د هغوی سره د مرستې په ډول ښودلي . د دې وینا و ډیر مثالونه دهغه هیواد دلویو مؤرخینو په تألیفاتو کې لیدلای شو . د مثال په ډول د روسیې دا تلسمې پیړۍ د مؤرخ کرمزین آثاروته نظر کوو :

نیکولای م کرمزین چې د ۱۷۶۶ او ۱۸۰۶ کلونو ترمینځ یې ژوند کاوه د خپل هیواد پر هغو یرغلونو دویاړ څرګندونه کوي چې د ده په وخت کې او له ده نه مخکې کلونو کې یی په آزادو هیوادونو کړي وو او هغه یې نیولې وو . دا مؤرخ چې د روس دیر غلونو تاریخ یې په د ولسو ټوکونو کې لیکلی دی ، خپل هیواد د نورو سیموپه نیولو کې په حقه ګڼي .

دې مؤرخ د سیمو نیول د روس دلورینې او زړه سوې په ډول ښودلی . د کرمزین تاریخ د ۱۸۱۸ او ۱۸۲۹ کلونوتو منځ په بشپړ ډول چاپ او بیاتر ۱۸۵۳ کاله پورې شپږ ځلې نورهم چاپ شو او وروسته له هغه تر ۱۹۰۳ کال پورې او وه ځلې نورهم چاپ شو .

دا مؤرخ د ځلورم ایوان هغه یرغلونه په ډیر ویاړ سره یادوي چې د «ولګا» ، «قازان» او ستراخان پر خپلواکو هیوادونو یې وکړل . د هغې سمیې د هیوادونو واکمن د هغه وخت د تعامل له مخې د چنګیزي عنعنې سره سم «خان» بلل کیده .

کرمزین ، د دې درې هیوادو ړنګول د خپل هیواد مسلم حق ګڼلی دی . دې لیکوال چې افکار یې دروسانو د فکر طرز ښیې د خپل هیواد طبیعي سرحدونه په هغه وخت کې شمالي قطب ، دبالتیك بحیره او د کسپین بحیره ښودلې وه ، حال دا چې په هغه وخت کې د روسیې د خاورې او د دې سیمو تر مینځ لو یې او پراخې سیمې او هیوادونه پراته وو .

په روسیه کې تاریخ تل دواکمنانو د متجاوزو پالیسیو په خدمت کې پاتې شوی دی . هلته لیکوالان ، مؤرخین او مفکرین دهغو اهدافو او پلانونو لپاره فکر کوي او ماغزه په کار اچوي چې د هیواد د پراختیا غوښتنې پالیسیو ته ګټورو ي . د دې لپاره چې دا واقعیت موږ ته ښه روښانه شي د یو بل مؤرخ آثار وته نظر اچوو :

دا مؤرخ نیکولای ج او ستریانوف دی ، چې دی هم پخپلو لیکنو کې د خپل هیواد سرحدونه د (اورال) غرونه ، د کسپین سواحل او قفقاز ښودلې وو . حال دا چې هغه سیمې د هیڅ ډول ارتباط له مخې د هغوی سیمې نه ګڼل

کیدې . دې مؤرخ هغه درې آزادې تاتاری خانی چې آزاد هیوادونه وو ، او جلا تاریخ او جلا کلتور او جلا نژادي درلود او په هغه وخت کی د روسانو له خوانه نه وې نیول شوې ، د روسیې برخې گڼلې او دهغو نیول یې د روسیې مسلم حق باله . دا ډول څرگندونې یوازې د دې دووتنو مؤرخینو په آثاروکې نه بلکې په ټولو روسی لیکنو کې یې لیدلی شو . دا په حقیقت کی د هغو ځایونو دنیو لو د پلان سریزه وه .

بله مفکوره چې په هغو آثاروکې زموږ نظر جلبوې داده چې دوی لیکلي چې روسیه دیولوی هیواد په صفت حق لري چې د اقتصادي انکشاف په مقصد هر ډول هڅې حتی د نورو سیمو د نیولو په گډون وکړي .

دوی لیکي چې دا د روس طبیعي حق دی چې د خپل اقتصاد د انکشاف لپاره هلې ځلې وکړي.ده لیکلي چې د اقتصادي هڅو حق روسیې ته دا حق ورکړی چې د بالتیك له لارې پرمختللو لویدیز و هیوادونو سره ونښلی.

دا هغه مودې وې چې روسانو خپلو یرغلونو ته ختیځ او جنوبې لوري ته زور ورکړی ؤاو نفوذ یې د هماغو یرغلونو په مرسته د هغو سیمو لیرې برخوته رسیدلی ؤ او ډیرې سیمې یې نیولی وې .

له لومړنیو هیوادونو څخه چې د روس د بریدونو ښکار شول د قازان اسلامی تاتاري هیواد ؤ . دغه مقتدر اسلامي هیواد د مسکو د متجاوز دولت سره دیوې پیړی لپاره د رقابت په حالت کې ؤ ، خوله بده مرغه دا هیواد په ۹۳۱ هـ ش کال کې د میزان د میاشتې په لسه نیټه له ډیر مقاومت څخه وروسته د روسانو محکوم شو ، ددې هیواد له غور ځیدو سره د کسپین لوري ته دو لگا لاره د روسي پوځونو په مخ خلاصه شوه . د دې لارې خلاصیدل روسانو ته د سایبیر یا لوري ته هم ورپرانیست.

وروسته بیاروسانو په ۹۳۵ هـ ش کال کی استراخان چی یو ډیر کمزوری تاتاری هیوادؤ ونیو وروسته بیا په ۹۶۳ کال کی یی سایبیریا ونیوله او په ۹۶۳ هـ ش کال کی یې کریمیا باندې یرغل وکړ . په دې یرغل کې دروسانو هدف داؤچې دلویدیځ مغلي دولتونو کار بشپړ کړي . په دې بریدونو کې یوازې روسي منظم لښکربرخه نه درلوده ، بلکې همدارنگه د (دان) او دلو یدیځ (چرکس) ملیشیا او یا په بل عبارت د دان او چرکس ایله جارو لښکر وهم برخه اخیستې وه . خو په پای کی دوی ټولو ته د عثماني ترکانو د (کف) او (ازاق) پوځونو ماتې ورکړه او په شاپې و تنبول . په همدغو مودو کی دولگا منځنۍ او کوزنۍ سیمې او لو یدیځه سایبیریا د تل لپاره د روسیې تر اسارت لاندې راغله .

روسانو د سایبیریا خاوره په ۱۵۸٤ کال کې ونیوله ، دکریمیا تاتارانو هڅه وکړه چې د خپل نژادي او اسلامي ورونو ملاتړ شي او هغوی ته له روسانو څخه نجات ورکړي ، خو په دې کار کې د (نوگای) د قبیلې له مخالفت سره مخامخ شو . د نوگای قبیلې یوازې د کریمیا له دې هڅو سره مخالفت ونکړ ، بلکې همدارنگه د دې ځایونو د نیولو په برخه کې د روسي تزار له پالیسۍ سره یې توافق او همکاري هم وښوده .

د کریمیا تاتارانو سره دهغه مخالفت هڅه وکړه چې د روسانو د پراختیا غوښتنو پلانونه ناکام او مخنیوی یې وکړي . له همدې کبله دمسکو پرجنوبي سرحدونو یې یرغل وکړ چې دهغوی کامیابي په حقیقت کې د آسیا ټولې سیمې ته د نجات زیری ؤ او د روسانو ټانکو نه نن د افغانستان له سرحد څخه د جگړی لپاره تیر یدلی نشو،خو د دوی هڅې د ترکي نژادو خلکو د خپل منځې

مخالفتونو له کبله ناکامې شوې . په ۹۸۳ هـ ش کال کې روسي تزار چې بوریس گدونوف نومیده پر شمالي قفقاز باندې یوه ډیره سخته حمله وکړه ځوداغستان ونیسي او د داغستان په نیولو د ایران لورې ته لاره خلاصه کړي .

په دې بریدونو کې روسانو ته په لومړي سر کې حینې کامیابۍ ورپه برخه شوې . حتی د هغه ځای مرکز یې چې (تارکو) بلل کیده ونیو او دنورو ځایونو په شان یې هغه ښارهم وران کړ او خلك یې ووژل ، خو د داغستان خلکو هم د عثماني ترکانو په مرسته د روسانو ټول پوځ له منځه یوړ او څه یې چې ژوندي پاتي شو په تیښته استراخان ته چې روسانو مخکې نیولی ؤ ،، ولاړل.

په دوو ورو ستیو پیړیو کې یعنې په اووه لسمه او اتلسمه پیړۍ کې روسان په دې سیمه کې د سختو ناکامیو سره مخامخ شول ، خوبیا هم تزار الکسي په وخت کې روسانو خپل پوځي سمبالښت هغسې یوحد ته رسولی ؤ چې د ځمکو نیولو په پلان یوځل بیا پیل وکړي . خو په دې ځل کې د هغوی هدف د آسیاو چه نه وه ، بلکې ټول پام لویدیځ لوري کی د سیمو نیولو ته اړول شوی ؤ او په دې ډول دغه یرغلگر هیواد دوه پیړۍ له پولینډ او سویډن سره په جگړه بوخت ؤ . په دی جگړ و کې د دوی خاصه علاقه د یو کراین او بالتیك د سیمې د هیوادونو د نیولو سره وه .

په پای کی د پتر په وخت کې لویدیځ لوري ته د کړکی په خلاصولو بریالی شول . په دې وختونو کې جنوب لوري یعنې د آسیائي ځمکو لوري کې خاص د دفاع په حالت کی ؤ او یوازې د هماغو مخکی نیول شوږو سیمو په ساتلو یې اکتفاء کړې وه ، ټوله مځه یې داوه چې یوکراین د کریمیا د تاتارانو او عثماني ترکانو له برید و نو څخه و ساتي . دوی همدارنگه په دې مرحله کې ونه کړای شو چې د قفقاز په ضد خپلو بریدونو ته دوام ورکړي . د پتر هغه کوښښ هم په ۱۰۹۰ هـ ش کال کې ناکام شو چې بالتیك ته د رسیدلو لپاره یې کاوه . د ایران په لور د پتر بریدونو ته څه ناڅه مؤقتي بری ور په برخه شو او ویې کولی شو چې «در بنت» غیلان او مازنداران ونیسي ، خو څوکاله وروسته هغه ټول ځایونه د نادر افشار له خوا بیرته ونیول شول او روسان بیرته پخوانیو سرحداتو ته په شاتگ ته مجبور شول . په دې وخت کی روسانو خپل بریدونه د مرکزي آسیا او زموږ د هیواد لوري ته دنژدې کیدلو په مقصد په یوه پراخه سطحه دیورال له غرونو او د کسپین له سواحلو څخه د تیانشان ترغرونو او د سایبیریا د ځنگلونو نه ورځیرمه برخو کې چټك کړل او دا درو سانو لپاره یو ډیر غوره فرصت ؤ،ځکه چې په دې ټولو سیمو کې د بودائي مغلانو او جنگاري کالمیك قبیلو ترمنځ چې دوی له۹۹۲ هـ ش کال څخه وروسته دولگا په کوزنۍ برخه کې او سیدل او دنوگای د قبیلی ترمینځ سختې خونړۍ جگړې رواني وې او روسانو له دې څخه پوره گټه واخیسته او له هغې نه په گټې اخیستلو ورو - ورو له سایبیریا څخه هغه لورته مخ په وړاندې وخوځیدل . هغوی د هغې لارې چې هغې خواته غزیدلې وه په لومړي برخه کې څوتینگی او لوړې کلاگانې جوړې کړې . د هغو کلاگانو نه یې (اومسك) په ۱۰۹۵ هـ ش کال کی (سیمیالاتیسك) یې په ۱۰۹۷ هـ ش کال او (اوست کمینوگورسك) یې په ۱۰۹۸ هـ ش کال کی جوړکړل . په دې مغلی جگړو کی د روسانو د پلان د بري یو بل علت دا وُچې قزاقانو د جنگاری مغلانو په ضد له (مسکووی) دولت څخه مرسته وغوښته . د دې مرستې غوښتنې هغوی ته فرصت

ورکړ چې دې کړکیچنو حالاتو کې د هغو سیمو د نیولو لپاره میدان ته ورودانګی چې د نفاق او خپل منځي دښمنۍ او رونو ړنګیدلو ته نژدې کړې وې. له هغې نیټې نه وروسته قزاقان د روس تر مستقیمی اداری لاندی راغلل او د هغوی د ځمکو نیولو سره روسان د چین سرحدونو ته ورسیدل . روسانو له دې فرصت څخه په استفاده دمرکزي آسیا په میدانونو کې د کلکو کلاګانو په جوړ ولو هم پیل وکړ ، د دې ګامونو په مرسته چې په بیلا بیلو وختونو کی یې پورته کول د هغوی کنترول له ۹۸٤ هـ ش کال څخه تر ۱۱۵۸هـ ش کال پورې په مرکزي ولګا ، داورال په وا دې ګانو ، لویدیځې سایبیریا دولګا په ښکتنیو برخو او د کسپین د بحیرې په غاړو باندې ټینګ شو .

هره سیمه به چې د دوی له خوا ونیول شوه د هغه ځای استوګن خلك به یې په یو نوم او بل نوم و شړل او د هغوی په ځای به یې روسان میشته کول ، څود مخالفت امکانات له منځه یوسي ، که څه هم دا موضوع یوې څیړنې ته اړتیالري ترڅو ددې واقعیت مثالونه وړاندې شي خو څرنګه چې دا څیړ نه د دې لیکنې له موضوع څخه بهر ده ، نوځکه دامبحث به په مناسب وخت کی و څیړل شي . په ۱۱۵۰ هـ ش کال کی ورسانو وکولی شول چې د کریمیا ټاپووزمه ونیسی او ۱۱۵۳ هـ ش کال کی په کریمیا باندی د عثمانی ترکانو قیمومیت پای ته ورسید . په پای کی په ۱۲٦۲ هـ ش کال کی د دې ټا-پو وزمې چې د (سروزرو ښکر) په نامه یې شهرت درلو د تاتاري خان چی شاهین ګیرای نومیده له هغه ځای څخه و شړل شو او هغه سیمه دتل لپاره دروسانو په لاس کی وغوځیده خوروسان دلته دخلکو له سختو جګړو سره مخامخ شول. دا جګړې د تصوف د نقشبندي سلسلی د روحاني مشرانو ترلارښوونې لاندې مخ په وړاندې روانې وی ، خو په پای کې د قفقاز روحاني مشر او لوی مجاهد امام شامل یې په ۱۲۳۵ هـ ش کال کی ونیو او دا جګړې هم له توانه و غورځیدې ، سره د دې هم د داغستان او چیچن سیمو باندی شدید کنترول موجود دی ، خو د هغوی د جهاد او وطن مینه لاهم پیاوړې ده . کله چی دوی د قفقاز له جګړ و څخه وزګار شول د منځنۍ آسیا لوري ته یې مخه وکړه . دلته روسان دسیمې د هیوادونو د خپلمنځي مخالفتونو او جګړو له کبله د خلکو او واکمنانو له سخت ټینګار سره مخامخ نه شول . حتی له مخکی څخه د بخارا ، خیوا او خوقند هیوادونه په اقتصادي لحاظ او د منابعو او تجهیزاتو د کموالي له کبله د روسانو تر اغیزې لاندې راغلي وو او د روسانو د اقتصادي انحصار سیاست دوی د هغو په لاسو کی غور ځولي وو .

د دې سیمې بشپړ اشغال چی د یوې پیړۍ نیمایي برخه یې ونیوله په ۱۲۳٤ هـ ش کال کې د چیمکند په تسلیمیدلو پیل شو او هغوی وروسته له هغه تاشکند ونیو او بیایې په ۱۲٤۷ هـ ش کال کی د بخارا امیر ته ماتې ورکړه او هغه یې مجبور کړ چې پخپل هیواد باندې دیو قرارداد له مخې د روسانو قیمومیت ومني . په ۱۲۵۲ هـ ش کال کی یی خیواهم ونیوله ، بیایې د خیواله نیولو څخه دوه کاله وروسته پر خوقندهم برید وکړ ، هغه یې ونیو . هغه ټولې سیمې د روسي ګورنر جنرال له خوا چی داداري مرکزیې په تاشکند کې و ، اداره کیده .

وروسته یې بیاد ۱۲۵۲ هـ ش او ۱۲٦۳ هـ ش کلونو ترمنځ د ترکمنانو سیمه هم ونیوله او په دې ډول زموږ د هیواد سره یې هم ډیره او ږده پوله پیدا کړه .

زمونږ اقتصادي پانګې او روسي لوټماران

دا یو حقیقت دی چې دهرې ټولنې د علمي اواقتصادي پرمختګ معیار دهغې ټولنې دواکمنانو د مسؤلیت د احساس له معیار سره مستقیم نسبت لري.زمونږ هیواد چې په اقتصادي لحاظ او د طبیعي زیر مو او طبیعي منابعو په لحاظ د آسیا ددې برخود جیولو جیکي سروې له مخې یو ډیر غني هیواد او د سرشارو منابعو لرونکی دی، متاسفانه د حکمرانانو خصوصًا د داود د هغې مینې له کبله چې د روس د بې دینه بې مسلکه او متجاوز هیواد سره یې در لوده او برسیره پردې د سلطنتي کورنۍ د هغو مفاسدو له کبله چې د دې هیوادد شعایرو، معروفاتو او اسلامي کلتور او تاریخ د تحریف او د ټولنې د دیني احساس د وژلو لپاره سرته رساوه،روسانو ته د امپریالیستي، او لنډو او اوږ دو مودو ګټو د ترلاسه کیدو لپاره د فعالیت او د ژورو پلانونو د تطبیق شرایط برابر کړل . هغه واکمنان پدې بریالي شو چې خپلو عیا شیو او فحا شیوته لاره اواره کړي. هغوی د دې هدف لپاره اسلامي نهضت او د اسلامي علومو انکشاف ته بالکل اجازه نه ورکوله ځکه چې هغوی او روسي دوستان ئې چې د درې سوو کالو په اوږدو کې دې لورې ته دسوقیاتو په تکل کې وو په دې پوهیدل چې د خلکو دیني او ملي شعور او د وطن دوستۍ احساس دواکمنانو د عیاشۍ اود امپریالستانو د پراختیا غوښتنو د فجایعو مخه نیسي .

ددې لپاره چې د روسانو په هغواغراضو چې په افغانستان باندې په حمله او تهاجم کې یې درلودل څه ناڅه رڼا واچول شي د تاریخ په خورو ورو پاڼو یوځغلند نظر اچوو . روسي واکدارانو په (۱۳۰۶ه ش) کال افغانستان ته پیشنهاد وکړ چې د افغانستان د معدني ذخیرو په پیدا کولو ، راایستلو او استفادې ته تیارولو کې د افغانستان سره مرسته وکړي . دا پیشنهاد د افغانستان د هغه وخت پاچا امیر امان الله ته شوی و،خوامان الله سره د دې چې دروسانو سره ئې روابط ښه او د انکشاف په حالت کې وو د هغه پیشنهاد د تحقق فرصت نه و پیدا کړی.د امان الله د غور ځیدلو سره د نادر شاه په وخت کې

په هغو روابطو کې څه ناڅه سوړوالی راغی خو هغه سوړوالی د افغانستان د سعادت لپاره او د کمونستي پلانونو د مخنیوي په ملحوظ نه بلکه خاص لدې کبله ؤ چې روسانو د نادر رقیب غلام نبي څرخي ته د امان الله لپاره د افغانستان دنیولو مرسته ورکړې وه.

ددویم نړیوال جنګ نه وروسته روسانو خپله پخوانۍ هڅه یوځل بیا پیل کړه په (۱۳۲۹) کال کی روسانو په رسمی ډول افغانستان ته د افغانستان د معدنی ذخیرو د پلټنو پیشنهاد و کړ.

افغانستان هغه رد کړ او د هغه وخت د حکومت د پالیسۍ له مخې له فرانسې څخه وغوښتل شو چې د افغانستان په شمال کې د تیلو پلټنې وکړي په (۱۳۳۲ش) کال کې افغانستان کې دمماغې سلطنتي کورنۍ یوبل غړی محمد داود چې ډیرلوی هدف ئې د روسانو سره نژدې اړیکې او دوستي وه د افغانستان د صدارت واګې ترلاسه کړې. داود یو مغرور د یکتاتور او یو داسې انسان ؤچې د مسلك او مطالعې له مخې د روسانو د اوږ دو پلانونو او تزارانو او وروسته دبلشویکانو د اهدافو ژوره پوهه یی در لوده خو د قدرت مینې اؤ دیو داسې تهذیب مینې چې اسلامي معیارونه ئې کمزوري وي د روسانو غیږې ته غور ځولی ؤ . روسان د داود هر سرود ته دنڅید لو لپاره چمتو وو څکه چې هغوی په هر قیمت دا هیله در لوده چی د دې خاورې د اقتصاد ټولې پلې د هغوی لاسونو کې وي . داؤد د خپل قدرت د دوام لپاره دې ډول سودا او معاملې ته د زړه له کومي حاضر ؤ او افغانستان لمړنی غیر کمونستی هیواد ؤ چی د روسیې اقتصادي مرسته یې قبوله کړه په دې هیواد کې چې د روسیې د پراختیا غوښتنې د اوږ دې تاریخچې په مود وکې لومړی د تزاري حکومتونو او بیاد کمونستي رژیم تهدید او خطر لاندې ؤ د داؤد دې معاملې د روسیې درې سوه کلنۍ هیلې ته د ترسره کیدلو لاره خلاصه کړه. په ۱۳۳٤ کال کې مسکو داؤد ته د مسکو په ابتکار د سل ملیونو ډالرو یو پورچې په سلوکې ئی دوه ګټه درلوده،ورکړ. ددې پور په نتیجه کی روسیی پخپل دوست داود باندې فشار راوړچی د تیلو د پلټنو قرارداد وشي.قرارداد دې د فرانسی سره فسخ شي او د دوی سره دې دپلټنو قراردادو شي،خود شرایطو په رڼاکې حکومت هغه قرارداد په ۱۳۳۳ هـ ش کال کې د سویډن سره لاس لیك کړ . سویډني ټیم په (۱۳۳۵) کال کې په خپلو کارونو پیل و کړخو په (۱۳۳٦) کال کی حکومت د روسانو له خواترفشار لاندې راغی چې دتیلو دلټولو لپاره د روسي پنځه لس ملیون ډالره پورو منې او روسان پدې کامیاب شول چې د سویډني ټیم سره د قرارداد کارفسخ او د چکوسلواکي کمونست حکومت سره چې د روسې ترمستقیم کنترول لاندې ؤ وشي.دا ډول قرارداد په (۱۳۳۷ش) کال کې وشو چکیانو په لنډه موده کی دتیلو د پراخو ذخیرو راپور ورکړ خو وروسته بیا ډیر زردهغو ځای دتکنو ایکسپورټ روسي اداری ونیو او پدې ډول دا مهم اقتصادي فعالیت د روسیې ترتسلط لاندې راغی . په «۱۳٤۰» کال کې روسانو هم په یو ډیر مفصل راپور کی په شبرغان کی د تیلو د پرا خوزیر مو اطلاع ورکړه او په(۱۳٤۱) کال کی روسانو د دوه سوو میلونو ډالر و یو بل پور د داود حکومت ته ورکړ او داسې ئې و ښوده چې نومړی پور د تیلو او طبیعي ګاز چې لویې زیر مې یې معلومې شوې وې د رایستلو لپاره ؤ،خوهغوی پدې برخه کی پرته له دې چی د معادنو پر وزارت خپل تسلط ټینګ کړي د تیلو دا یستلو لپاره یې هیڅ ډول اقدام نه

کاوه ، د دوی اهدافو ته ورځ په ورځ نوی ګټی په برخه کیدلی . په (۱۳۴۲) کال کی د داود د دوستی تر سیوري لاندې روسانو د نورو معدنونو د سروې او را-ایستلو ټول امتیازات ترلاسه کړل او پدی ډول روس دیو دیکتاتور صدر اعظم چې مخکې یې هیڅ قدرت او هیڅ یوتن در و سانو اهدافو ته دګوتې نیولو جرأت نه در لود په افغانستان باندې خپل نفوذ زیات کړ،نور ټول پور ورکوونکې او هغه هیوادونه چې په افغانستان کی یې مستقیمې ګټې نه در لودې د دې هیواد سره د مرستو ورکولو له میدان څخه د داود د دیکتا توری په مرسته و ایستل شو ، او روسان د خپلو اهدافو د پر مخبیولو لپاره د ټولو امتیازاتو او د هر ډول رسمي او حکومتي توجه سره پاتې شول . دوی یوازې د بهرنیو شرکتونو څخه امتیاز ترلاسه نه کړ ، بلکې همدارنګه هغه افغانان یې هم بی اختیاره او له قدرته و غورځول چې د دوی په اهدافو او نیاتو پوهیدل .

د روسي اغیزې د مخنیوی هڅې د سلطنت په آخر و ورځو کې د پیل په حال کی وې خو د شفیق د حکومت په غورځیدلو او د داؤد په کودتا یو ځل بیار و سانو ته په ټول هیواد کی لوړ امتیازات ور په برخه شو چې په پای کی د دوی خپلو خلقي او پرچمي نوکرانو قدرت غصب کړ او په (۱۳۵۷) کال کې د کمونستي کودتا سره جوخت د روسی پوځې مشاورینو شمیر څلورزرو او پنځه سو تنو ته ورسید دا شمیر دنړۍ په هره برخه کې د روسي پوځي مشاورینو له شمیر څخه لوړ ؤ . په (۱۳۴۲) کال کی چې روسان پدې بریالی شول چې د افغانستان انکشافي پروژی پخپل هیواد پورې د راتلونکو اهدافو لپاره منحصر کړي دا هڅې یې هم پیل کړې چې د دې هیواد د معدنونو او طبیعي شتمنیو د نقشو اخیستل هم د دوی شي . پدې کار کې دوی پوره کامیابي ترلاسه کړه .

د طبیعي ګاز او تیلو په برخه کې دا بیا د یادولو وړ ده چې ګاز په افغانستان کې په ۱۳۴۲ کال کی د شبر-غان په خواجه ګوګر دك کې کشف شوی ؤ . د دې نه مخکې هغه نقشې چې د ملګر و ملتو د ماهرینو په مرسته تهیه شوې وې اته پنځوس ډوله د احتراقي جامدو موادو معدنونه ، اته سوه اته ډوله نوي معدني مواد،یوسل او څوارلس ډوله نایابه قیمتي فلزات ، څلور ډوله درادیو اکتیف عناصر او کم یابه ساحې ، یوسل او پنځه ډوله قیمتي فلزات ، یوسل او اتلس ډوله غیر فلزي معدنیات ، څوارلس ډوله مالګې ، یو ویشت ډوله قیمتي او نیمائي قیمتي تیږې ، در ویشت ډوله الکترونیك او دوربیني معدنیات او نهه شپیته ډوله صنعتی معدنیات په موجود ډول تثبیت او نقشې یې په بشپړ ډول تهیه شوې وې . د صنعتي معدنونو له او و شپیتو څخه دراپور د برا بریدلو په وختونو کې استخراج جریان در لود . د صنعتي معدنیاتو پیژندل شوي عمومي موجود اقسام په واقعیت کی اته اویا ډوله ؤو دا هغه ډولونه دي چې تجارتي اهمیت یې تثبیت شویدی . ځینی یې د ډیر اعلی جنسیت څخه دي . لدې کبله لدې څخه یو زیات شمیر په «۱۳۵۲» او «۱۳۵۳» کلونو کې دیوی کانا ډائي ډلې له خوا چې د دې معدنونو د جنسیت د تثبیت ماهرین ؤ د ډیر عالي جنسیت معدنونه تثبیت شوې ؤچې دنړۍ بازار ونو کې یې رقابت کولای شو . هغو ماهرینو نظر ورکړی ؤچې ځینې چې د استخراج په حالت کې وو که دنړۍ بازار ونو ته وړاندې شي د بازار په نرخونو کی به یو سملاسي تحول را منځته شي .

د طبیعي ګاز په برخه کې مولکه چې مخکې وویل

لمړنۍ ساحه د شبرغان خواجه گوگردك کې وه استخراج شو او په هغه سروې کې چې په «۱۳۵٦» کال کې و شوه د گاز اندازه د پنځه سوه تر یلیون ، مکعب فټ څخه زیاته وښودل شوه،خو روسانو سم له لاسه دا ټول گاز دافغانستان د مشکلاتو سره خپل هـــېواد ته د صادر یدلو بندوبست وکړ او افغانانو ته یې دلگښت څخه خنډونه را منځته کړل چې دهغې سره سم یو پایپ لین چې شپیته میله اوږ دوالی یې در لود روسیې ته و غزول شو ، څو د افغانستان گاز په بشپړ ډول د روسي تسلط لاندې ځمکو ته ولیږ دول شي د دې پایپ لاین کار په «۱۳٤٦» کال کې بشپړ شو او په ۱۳٤۷ کال کی پرانیستل شو . د دې گاز و څخه د افغانستان داستفادی حق یوازې د شپږ دیرش زره کیلوواټه حرارتي بریښــنا د تولید لپاره په مزار شریف کې او په کال کې دسل زره ټنو کیمیاوي سرو د تولید لپاره د یوځل پایپ لاین له لارې محدود پاتې شو . دې دواړو فابریکو د هغه ټول گاز څخه یوازې دوه سوه ننځوس ملیون مکعب متر گاز به یې په ټول کال کی مصر فول . د دې د وو فابریکو دلگښت نه پرته او پرته له هغه مقدار څخه چې شبرغان کې یوازې د روسانو د ځایونو د تودولو اوپخلي لپاره د مصر فیدلو لپاره ورکول کیده افغانانو ته هیڅ نه ورکول کیدل.د ۱۳۵٦ کال د حوت په میاشت کې چې د کمونستانو دراتلو نه یوڅه موده مخکې وه د ملگرو ملتو یو ماهر د کانونو وزارت ته یو را پور وړاندې کړ او په هغه کې یې د گاز له ساحې څخه کابل ته د گاز دیو پایپ د غزولو سپارښتنه ، وکړه او دا تثبیت شوه چې د حرارتي بریښنا یو مرکز دې په کابل کې په کار واچول شي چې د هیواد نور و برخوته بریښنا ورکړي،خوله بده مرغه بیاهم روسي امپر یالستان دې موضوع ته ځیر شول او یو روسی انجینر چې د پلان جوړولو وزارت کی یې د پلان د متخصص په ډول کار کاوه د ملگرو ملتونوموړي ماهریې په عاجل ډول ځان ته را وغوښت او دهغه را پور د برابر ولو او خپر ولو د علت پو ښتنه یې ترې وکړه . درې میاشتې یعنې دغوائي له کودتا څخه فقط یوه هفته وروسته د روسي سفارت له رژیم سره یو زیات شمیر موافقې د معدنونو ، گاز او پټرولو په باره کې لاسلیك کړلې او هغه را پوروته، پیشنهادونه او پلانونه چې د ټول افغانستان دبریښنا لپاره برابر شوي وو او په هغو کې د افغاني گاز و څخه دلوړې استفادې تجویز شوی ؤ د تل لپاره له منځه یوړل شو .

د ۱۳۵۸ کال د جوزا میاشت کې د روسانو د جیولوجي دوه سوه تنه نور ماهرین د افغانستان شمال ته ورسیدل او دگاز و ټول کنترول یې خپلو لاسو کې ونیو . وروسته له یولنډ وخت څخه یې د گازودزیر مو دیوې بلی ساحې په باب یوه اعلامیه خپره کړه او په هغه کې وویل شو چې دا ساحه به هره ورځ یو ملیون مکعب متر گاز برابر وي . په (۱۳۵۹) کال کی د روسي ماهرینوی رلې راغلې اودگاز د تولید اندازه یې په سلوکی پنځه شپیته نوره هم زیاته کړله . د هغو موافقوله مخې چې د رژیم او روسي حکومت ترمینځ شوې وې روسیې ته د گازو متوسط کلنی صدور دوه عشاریه پنځه ملیارد مکعب متر تثبیت شو چې دې کلني صادراتو تر (۱۳٦٤) کاله پورې اعتبار در لود او داسې تجویز شوی ؤچې د خواجه گوگردك د سلفر لرونکي گاز صادریدونکی مقدار کم او د جرقدق د عالي جنسیت د بې سلفره گاز صادرات دې ډیر زیات کړلشي . داسې تجویز هم ونیول شو چې د گاز قیمت دې افغانستان ته ور نه کړ شي،بلکی هغه

قیمت دي د روسيې د پورونو او د پورونو د گټو په مقابل کې او دهغو پروژو په لگښتونو کې دی محاسبه شي چې د روسانو له خواجوړې شوې وې، حال داچې د (۱۳٤۷) کال د دلوې د او و لسمې نیټې د اقتصادي او تخنیکي همکارۍ د موافقه لیك په پنځمه ماده کې داسې ویل شوي وچې: د افغانستان د پورونو او د پورونو د گټو تادیه به روسیې ته د طبیعي گاز او نورو مالونو د صادرولو له لارې د افغان ـ روسیې د معتبرو اوناقذو موافقو سره سم په لاندې ډول کیږي:

د طبیعي گاز اندازه او د نورو صادراتي مالونو اندازه هریو د جنتري مطابق کال لپاره به د دوو قرارداد کوونکو له خوا د پور او د گټې د تادیې د کال د پیل نه درې میاشتې مخکې ټاکل کیږي . که چیرې ورکړې شوی طبعی گاز او نور و افغاني مالونو ورکول د هغو پورونو او د هغو گټو لپاره چې په هغه کال کې تادیه کیدونکې وې کافی نه وي.پاتې اندازه به یی د دواړو خو او په رائجو سکود بین المللی بازار د تبادلې په نرخ د افغانستان-روسیې د تجارت او تادیې د هغې موافقنامې د حکم سره سم ورکړ شي چې د (۱۳۲۹) کال د سرطان د میاشتې په شپږ و یشتمه نیټه د دواړو خو او ترمنځ لاسلیك شوې وه .

سره د دې چې د (۱۳٤۷) کال په پورتني موافقه لیك کی د هغو قیمتونو د تادیې سپار ښتنه شوې وه چې پرې د دواړو خواؤ موافقه راغلې وای،خو روس پخپله خوښه د قراردادنه خلاف هغسې قیمت ټاکه چې هغوی پخپله د هغې د تادیې اراده کوله او د صادر شوي گازد اندازې معلومات یې هم له ټولو نه پټ ساتل . هغو به د هغه مبلغ د اندازې معلومات هم نه ورکول چې افغانستان ته باید د صادر شوي گاز په مقابل کې ورکړ شي .

سربیره پردې به گاز د روسیې د تمایل او غوښتنې سره سم د افغانستان او روسیې په سرحد کې اندازه کیږې او د اندازه کولو حق او اختیار هم پخپله د روسانو لاس کی دی او افغانان د کمونستانو نه وروسته او مخکی وخت کې د صادریدونکي گاز اندازه کولو کې هیڅ حق نلري او مجبور دي چې د مسکو وینا بی له هر ډول تردد او استدلال څخه و مني .

هغه قیمت چې روسان ټاکي او تادیه کوي یې د طبیعي گازد بین المللی منل شوي قیمت څخه ډیر کم دی . هغه قیمت چې روسانو د ۱۳۲۹ هـ کال نه ۱۲۵۳ کاله پورې ورکاوه په زر مکعب فټو باندې «۱۷» سنټه ؤ حال دا چې په موافقت لیك کی ویل شوي‌وچې هر کال دی د گاز قیمت له نوي سره و ټاکل شي . وروسته بیا هغه قیمت دوه ّ هومره یعنې «۳٤» سنټه شو او په هماغه یو وخت کې روسانو د ایران د طبیعي گاز قیمت د افغانستان د گاز به نسبت درې چنده یعنې درې هومره زیات ورکاوه.د دې لپاره روسانو استدلال کاوه چې د ایران گاز جنسیت د افغانستان د گاز نه غوره دی . رښتیاهم پدې دوه ډوله گاز کې توپیر شته،مگر د دې توپیر تناسب ډیر جزیي او بې اهمیته دی.د کمونستانو له کودتا څخه مخکې افغانستان ډیره هڅه وکړه چې روسان دې ته چمتوکړي چې گاز په او چته بیه واخلي خورو سان دیو امپر یالست قوت په ډول حتی خپلو داوـ دي دوستانو ته هم د نرخونو د وچتولو خوښه نه کوله.

وروسته بیا د کوم سیاسي فریب له کبله دې ته حاضر شول چې په سلو کې دیرش هغه زیات کړي یعنې هغه نرخ یې چې زرمکعب فټ گازته ئې څلور څلویښت سنټه ورکول نهه پنځوس سنټو ته ئې لوړ کړ، بیا دا قیمت یې د غوایي د کودتا څخه شوروځې مخکی څرنگه

چې پدې کودتا خبرو ۇ د زر مکعب فټو لپاره «۰۵، ۱» ډالرو ته پورته کړ چې د بين المللی قيمت د پينځو په مقابل کې يو ۇ يعنې هغه قيمت هم د بين المللی قيمت پنځمه برخه وه . بيائې دا قيمت د نجيب په وخت کې په زر مکعب فټو باندې «۳۵، ۲» ډالره شو خو همدغه گاز ئې په (۱۳٦۰) کال کی په اروپا باندې هر زر مکعب فټ په «۱۰، ۵» ډالرو باندې خرڅول . رارسيدلې خبرونه ښيئ چې روسيې ته د ۱۳۵۸ کال راهيسې هر کال کی له پنځه اويا بليون مکعب فټ څخه تريوسل‌او پنځه بليون مکعب فټه پورې گاز وړل کيږې او ورستيو وختو کې پلان داسې ۇچې دا اندازه په سلوکې پنځه شپيته نوره هم زياته کړي . پدې باره کې انټرنيشنل پټروليم انسايکلو پيډيايو مفصل را پور وړاندې کړی ۇ او په هغه کې يې ښودلی ۇ چی په (۱۳٦۱) کال کې يوسل‌او اته پنځوس تريليون مکعب فټه گاز له افغانستان څخه د روس خاورې ته ليږدول شوی ۇ . د دې لپاره چې د گاز پأيپ لين د مجاهدينو له حملې څخه محفوظ کړي هغه ئې د افغانستان د خاورې د ننه په ټوله لاره کې له پنځه لسو څخه ترشل فټو پورې په ځمکه ژور ښخ کړ او د گازو ليږ دونه د کمونستانو د کودتا د لو-مړيو وختونو په نسبت پنځه هومره زياته شويده .

يو شمير مجاهدين چې د ښمن لپې د ب-يم ۱۲ دستگاه په وسيله تر اورلاندې نيولی دی .

د روسي يرغلګرو قواو

ترکيب او جنايات

د ۱۳۵۸ کال د قوس د مياشتې په وروستيو ورځو کې د روسي پوځ د خاص ضربتي کماندو ګارډ چې «سپيتناتس» بلل کيږي «۱۰۵» نمبر پراشوټي قوا دهواله لارې څخه د کابل هوائي ميدان ته په تدريجي ډول سره راوړل شوې وه او هلته هغوی د هوائي پوځ له قطعاتو سره چې له مخکې څخه د خلقي کمونستانو د ساتنې لپاره راغلي وو يوځای شول . وروسته بيا هغوی ټولو په يوګډ چټکو عملياتو کې چې له پنځو ساعتو څخه ئې کم وخت ونيو ، لاره هغو ډيرو لويو الوتکو ته خلاصه کړه چې شميرئې دوه سوه اتياؤ ته رسيده . دې الوتکو چې بې له وقفې څخه په مسلسل ډول هوائي ميدان کې کوزيدلې او د خيرخانې ، افشار ، هودخيلو او نورو برخو د پاسه په تيريدلو سره يې د کورونو کړکۍ او ديوالو- نه لړزول . په پرله پسې الو تنو کې ئې د سپيتناتس کمانډو ګانو «۱۰۲» او «۱۰۳» قواوې ئې هم د وسايطو سره کابل ته ورسولې . دجدي د تورې شپږمې ورځې نه مخکې د مخکينۍ ډلې کمونستانو د تسلط په وخت کې کابل کې له پنځلس زرو تنو څخه تر شل زرو تنو پورې وسله وال روسي پوځونه موجود ؤ و (۱) . د دې څخه دا څرګنديږي چې د جدي د مياشتې يرغل د تيرو مودو ديرغل د لړۍ برخه وه چې بياد ۱۳۵۸ کال د جدې د شپږمې نيټې په لومړنيو شيبو کې هماغه يرغلګران چې ترهغې شيبې پورې کابل ته رسول شوې وواود جګړه مارو شميرئې له يوې فرقې څخه پورته شوی ؤ ، د کابل له هوائي ميدان څخه د ښار او نورو حساسو او مهمو برخو لورې ته وخوځيدل او په ډير سرعت يې د ښارد حساسو برخو کنترول ترلاسه کړ .

د دې عملياتو سره سم د هغو وحشي يرغلګرو چې د ګډژوند پر اصولو يې عقيده نه درلوده «۳۵۷ ، ۶۶ ، ۳۰۶ او ۲۰۱ » موټر لرونکې زغره والې قطعې هم د افغانستان له سرحدي پولو څخه د افغانستان لور ته واو ښتلې او په داسې حال کې چې د مګ ۲۱ او مګ ۲۳ جيټونو له خوا حمايه کيدل دهغو نقطو لورې ته د لوړ سرعت سره روان ؤوچې مخکې ورته هغو نقشو کې ټاکل شوې ؤوچې د دوی د هرډلګې سره موجودې وې .

د روسي يرغلګر و دا يرغل دنهه او يا کالو ديوې وقفې

څخه وروسته چې مخکینی یرغلونه هغوی د پامیر څیرمه برخو ته چې ئې په ۱۲۷۹ هجری لمریز کال کی نیولې وې بیا پیل کړ شو . د روسیې په سیاسي تاریخ کی داسې یو وخت نه کتل کیږي چې روسانو پکې د نورو آزادو هیوادونو د سیمو له نیولو څخه لاس اخیستی وي.

روسی پوځونه دافغانستان مختلفو برخو ته له رسیدلو سره سم په بیلابیلو ځایونو کې د عملیاتو مرکزونه جوړ کړل . دې‌پوځونو‌د دې هیواد په هر ولایت کې د روسي تسلط د ټینگولو لپاره په جنایاتو لاس پورې کړ په ۱۳۶۴ هـ ش کال کی د روسي قواود جنگي پوځونو ترکیب په دې ډول ؤ : په افغانستان کې د عملیاتو مسؤله قوا په لومړیو ورځو کې «۴۰» نمبر پوځ ؤ چې د قوماندانی عملیاتي مرکزیې ترمزکې ؤ او دلومړنی لیکو قرارگاه یې د کابل بالاحصار کی موقعیت درلود . د فوق العاده خاص ضربتی ۱۰۳ نمبر فرقې قرارگاه په هغه میدان کې وه چې د مهتاب قلعه او تاج بیك غونډۍ ترمینځ پروت ؤ ، ۱۰۸ نمبر توپچی قوا په خیرخانه کی وه ، ۲۰۱ نمبر قواد کندز د هوائي میدان څنگ کی، د گارډ پنځم نمبر قوا شینډنډ کې وه ۳۵۷، نمبر فرقه کشك کې وه او د ۳۶۰ نمبر فرقې قوماندانې ترمزکې، د ٦٦ نمبر موټړ لرونکې قوا قرارگاه د جلال آباد ثمرخیلو کې، ۱۹۱ نمبر موټړ لرونکې د درنې وسلې قواغزنی کې، د ٨٦٦ نمبر موټړ لرونکې درنې وسلې قوا د بدخشان مرکز فیض آباد کې، ۳۸ نمبر تعرضي هوائي قوا گردیز کې د خاص گارډ ۲۷۵ نمبر قوا مرکز بگرام کې، ضربتي کمانډو قوا چې د خاصو عملیاتو ضربتي قوا په نامه یادیده شینډنډ کی او بل د خاصو عملیاتو قوا کابل کې وه ٤٠ نمبر متحرکه قوا چې دا قواهم د خاصو عملیاتو د قوا په نامه یادیده په ټول افغانستان کې خوره وه، د هوائي میدانونو د ساتنې او دفاع ۴۰ نمبر خاصه قوا د بگرام په هوائي میدان کې د درنو وسلو ٤٠ نمبر قوا کابل کې، د کی، جی، بی متحرکو سرحدي محافظینو قوا کابل کې او د کی، جی، بی د سرحدي محافظینو دبلې گرځندې قوا مرکزهم په کابل کې ؤ .

د دې یرغلگرو قوتونو نه سربیره د محافظینو ۱۰٤ نمبر ضربتی قوې فرقې هم د مرکزي آسیاد خاورې د هوائی میدانونو څخه د جنگی عملیاتو او بمباریو لپاره پردې خاورې بریدونه کول . د دې قواو د بمبارۍ ساحه په اکثر ډول د افغانستان شمالي برخې وې چې پر هغو برخویی هره ورځ په پرله پسې ډول بریدونه کول . په ۱۳٦۲ کال کی د هغې قوا چې د هوائي میدانونو دفاع په نامه یا دیږي ډیر مهم مجهزاو متعرض قوتونه د جلال آباد او کندهار هوائي میدانونو کې ځای په ځای شول او بیاد سپتناتس نوي قوتونه هم دې میدانونو ته راور سیدل (۱) ځینو منابعو دیر غلگرو قواؤ د شمیر ترکیب چې پدې هیواد کی په جنگی ورځنیو عملیاتو بوخت وو داسی ښودلی د ی:یوسل او پنځلس زره تنه عسکر د روسیی منظمو عادي نظامې قواؤ فرقې، څلویښت زره تنه عملیاتي قوتونه چې د افغانستان پر بیلابیلو برخو کې یې د عملیاتو وظیفې لرلې او مرکز یې په منځنۍ آسیا کې وؤ . لس زره تنه د هوائي بمباریو او هوائي عملیاتي قوا، پنځوس زره تنه کومکي اردوچې د افغانستان د ننه په عملیاتو کې یې گډون کاوه خود هغو څلویښت زره تنو قواؤ نه چې مخکې یادشو په بشپړ ډول جلاوړ . د دې قواؤ نه علاوه دوه زره تنه عسکري مشاورین هم د رژیم، په نظامي پرسونل کې د جنگي عملیاتو واگې درلود . د دې ټولو قوتونه

سربیره د کی، جی، بی او ایم، وی، ډي قوتونه چې شمیرئي له پنځه زرو تنو څخه زیات وو او څو زره تنه نورچې د غیر نظامي مشاورینو په نوم یادیدل د دې هیواد د ویجاړ ولو په جنایاتو اخته وو . په هغو وختونو کې چې پورتنۍ قواوې پدې هیواد کې په جنګي جنایاتو بوختې وې د دوی سره یوځای سل تنه کیوبائي نظامي مشاورین اوسل تنه پولیسي مشاورین چې په ختیځ المان پورې مربوط وو په افغانستان کې په تخریبي او جنګي فعالیتونو بوخت ؤو . دا ټول عملیات چې د روسي رسمي اصطلاح کې د جنوب عملیاتي څانګه بلل کیده د مسکو د عمومي حرکاتو دا دارې ترمستقیم امر لاندې وو او د عملیاتو اداره ئې تاشکند کې وه چې د ۱۹۸۵ کال تر اواسطو پورې عمومي قوماندان یې جنرال میخائیل زایتسف ؤ . ددې عملیاتو بله قوماندانې چې د پورتنۍ قوماندانۍ تر امر او هدایت لاندې یې فعالیت کاوه د جنرال یوماکسیموف تر قوماندې لاندې وه . دې قوماندانۍ ټول افغانستان کې د جنګی فعالیت مستقیم مسؤلیت در لود د هغو اساسي جنګي فعالیتونو چې افغانستان کی د جنګي وحشت د پرمخ بیولو لپاره تجویز شوې وو د روسي (٤٠) نمبر قوا وه . د دې قوا عمومي قوماندان د ۱۳۵۸ کال څخه تر ۱۳٦۳ کاله پورې لفټننټ جنرال وي، میخائیلوف ؤ .

په مسکو کې د ټولې روسیې د نظامي قواو د سوق او ادارې مرکزي دفتر په افغانستان کې د جنګي وحشت او جنایاتو مستقیم مسؤلیت درلود . په دې هیواد کې د یرغلګرو جنګي وحشت او جنایات په مختلفو ډو لونو سرته رسول کیدل . د کلو او بانډو په بې دفاع خلکو باندې بې رحمه بمبارې چې په سؤونو تنه خلك به پکې شهیدان کیدل د هغوی د هر وخت یو عادي عمل ؤ . همدارنګه د کلو د بمبارۍ په وخت کی به یی چې خلك د تیښتې په حالت کې ولیدل هغوی یې د توپ لرونکو هلیکو پتر و څخه په ماشیندارو ویشتل . د هغو وحشي یرغلګرو د دې ډول جنایاتو څخه په لسګونو زره بې دفاع سپین ږیري، ماشومان، نارینه او ښځې شهیدان شوې دي . روسان په افغانستان کې په جنګي جنایاتو کی د هغه ډول اعمالو مرتکب و ګرځیدل چې د بشریت نوم ترې کرکه لري . له یوې خوا د دیني عقایدو له منځه وړلوته ډول ډول هڅې او د الحاد او دین دښمنۍ د جنایاتو تشویق او تحریص، د مساجدو ورانول او د اسلامي فرهنګ د محوه کولو هڅې او له بلې خواد کلو او بانډو حتی ښارونو بمباري او د روسي ځمکنیو پوځونو له خوا د زړو، ځوانانو، ښځو او ماشومانو عام قتلونه او بې له کومې اساسي او اصولي محاکمې څخه د بندیانو اعدامول، دعامو خلکو د تباهۍ لپاره په عامو لارو پولو اوکروندو کې د مختلفو ماینونو ایښودل او دایښودل شوو ماینونو د ساحو نقشه د ټول ملت او عامو خلکو څخه پټ ساتل، د ایمان او اسلام سره د دښمنۍ په وجه د خلکو بند یانول او د بند یانو غیر انساني ربړول، ځپل او وژل، د میندو او پلرونو مخکې د ماشومانو وژل، د درمندونو سوزول د کروند و ویجاړول، د بندونو او و یالو ورانول، د څارویو وژل د تالا شي په پلمه د کورونو لو ټول، کورنیو ته د تالا شي د خلکو سپك نظر هغه جنایات دي چې د افغانستان مؤمن ملت ورسره د کمونیزم د غلامانو او در وسانو لخوا مخامخ دی . روسان او نور کمونستان د پراختیاغوښتنې د تاریخ په ټولو او پړدو کې د تزارانو او کمونستانو دواړو مرحلو په مودو کې د یوراز جنایاتو مرتکب شوي . د دې یرغلګرو سیاسي تاریخ د وړو

هیوادونو له مینځه وړلو او محکو مولو سره پیل شوی دی .

د افغانستان د مسلمان ملت سره د جنګ په ټولو اوږ دو کې د هغوی هڅه دا وه چې په اسلام باندی د خلګو اعتقاد خصوصاً په ځوانانو او تنګیو هلکانو او نجونو کې اسلامي عقیده او احساس ووژنې د روسي یرغلګرانو دا ډول جنایات دنړۍ د نورو امپریالستانو د امپریالیزم د هلو ځلو په تاریخ کې هیڅ ډول ساری نه لري . روسان په پوهیواد باندې دیرغل څخه یوازې دا هیله نه لري چې اقتصادي ګټې ورپه برخه شي د هغوی اصلي هدف داوی چې هغه ملت له ټولو فرهنګی، کلتوري، مذهبي ملي او سیاسي معتقداتو، مفکورو، تاریخ او روایاتو څخه محروم کړي او د دې لپاره چې هغوی تل د غلامۍ په حالت کې وساتل شي تاریخ یې تحریفوي، عنعنات یې بدلوي، د ښوونې او روزنې سیستم یې بدلوي، معروفات او شعایرئې له منځه وړي اوهر څوک چې د هغو ارزښتونو د حمایت غږ پورته کړي په ډیره بې رحمۍ له منځه وړل کیږي . زمونږ ملت د کمونیزم د نفوذ و په ټولو مرحلو کې د دې جنایاتو ښکارپاتې شوی . اوس په افغانستان کې هغه نسل چې د کمونستانو ترجغ لاندې را پورته شوی، دین او اسلامی عقیده نه پیژنې هغوی ته داسې تزریق شوې چې روسان په افغانانو باندې د خواخوږتیاله کبله د دوی فرهنګ، او کلتور او تاریخی افتخارات محوه کوي . دا مطلب هغوی ته په هغسې عباراتو وړاندې کیږې چې پوخام او بې خبره ملك ته د تحریف وسیله ګرځیدلی شي . زمونږ دیني عنعنات، دیني مشخصات، دیني مراسم او عبادات او حتی په عمومي ډول اسلامي لاره دنړۍ د دې وحشي استعمار په ظالمو منګولو داسې زمول شوي چې احیاء او تازه کول یې ډیره لو یه خواري غواړي .

مجاهدین چې د دښمن الوتکه د ستنګر توغندي په وسیله هدف نیسی .

د جهاد له یوه تکړه قوماندان

حاجي معافي خان

سره

مرکه

په دې نژدې وختونو کی زمونږ خبریال بریالی شو چې د جلال آباد د جبهو د یو زړور قوماندان سره د هغه د جهادي فعالیت په باب یوه مرکه وکړي،هغه مرکه لوستونکو ته د جهادی معلومات په بول وړاندی کیږی

پوښتنه: محترم قوماندان صاحب لطفاً زمونږ لوستونکو ته ځان معرفي کړئ؟

بسم الله الرحمن الرحیم

ځواب: ــــــــــــ زما نوم معافي خان او د پکتیا ولایت د وزې ولسوالۍ د ابراهیم خیلو اوسیدونکی یم .

پوښتنه: تاسو جهاد څه وخت پیل کړی دی؟ مونږ به ډیر خوښ شو که مونږ ته داهم ووایئ چې وسله وال جهاد مود کمونستانو په مقابل کی په کوم ځای کې او د کوم قوماندان او کوم قائد ترقیادت لاندې پیل کړ؟

ځواب: شخصاً ما مسلحانه جهاد په (۱۳۵۸) کال کی شروع کړ،البته د دې نه مخکښی می د کمونستانو په مقابل کی تقریباً شپږ یا اووه کاله مبارزه هم کړی ده اما مسلحانه جهاد مې په ۱۳۵۸ کال کی د مولوی صاحب جلال الدین «حقانی» تر قیادت لاندې شروع کړ .

پوښتنه: لطفاً مونږ ته ووایئ چې تاسو په کومو-کومو ځایونو کې جهاد کړی، آیا په جهاد کی کله ټپي شوی یی که نه؟

ځواب: ما خپل وسله وال جهاد په خپله منطقه کې یعنی په ځدرانو ، گردیز ، زرمل ، نادر شاه کوټ دوه ماندو،په ژوره او داسې نورو مختلفو ځایونو کې کړی دی . زه خپله په ژوره کی دهغی لویی قوا،برید کې چی روسانو او کمونستانو په ژوره باندی تعرض وکړ، سخت ټپی شوم چې تقریباً شپږ میاشتی مې په بستر کې تیرې کړې .

پوښتنه: لکه چی خبریو ته اوس دیو جهادي غنډ قوماندان یئ مجاهدین اکثر وختونه د

خپلو امیرانو او قائدینو ترمشرۍ لاندې بې
له پوځي تشکیل نه جهاد کوي، د جهادي
منظم غنډ په جوړولو کې ستاسې څه هدف و؟

ځواب: څرنګه چې مخکښې مو هم په مختلفو جبهاتو
کې په آزاد ډول جهاد کړی دی نو هغه وخت نه ماته
خپله دا فکر پیدا شو چې جهاد دې باید د نظم او
ډسپلین لاندې وکړل شی، البته زمونږ مشرانو ته هم دا
فکر پیدا شو چې اوس د مجاهدینو یو منظم قوت ته
ضرورت پیدا شوی او یو منظم قوت د کمونستانو په
مقابل کی باید جوړ کړي چې البته دغه منظم قوت په
هر ډول اسلحه او مختلفو تاکتیکونو باندې پوه شي
علاوه ددې نه په همدې طریقه مجاهدینو ته خپل حقوق
په صحیح صورت سره ورسیږي.بله خبره داده که
مجاهدین په منظمه توګه جهاد وکړي نو انشا الله تلفات
به یې کم وي او د دښمنانو تلفات به ډیر زیات وي،نو
پدې اساس مونږ مجبور شو چې د مجاهدینو دصفونو نه
یو منظم قوت جوړ کړو،چې دا منظم قوت بیلکولای شی
چې د کمونستانو په مقابل کې په هر وخت کی و د
ریږي،پدې کې انشاءالله د مجاهدینو تلفات کم وي او
د دښمنانو تلفات به زښت زیات وي چې پدې منظم
قوت کې دوی د هر قسم اسلحې تخنیك او تاکتیك نه
کار اخیستلای شي .

پوښتنه: آیا ستاسې دغنډ مجاهدین د هغو
پرمخ تللو وسلو په استعمال پوهیږي چې
تاسو له دښمن نه د غنیمت په ډول لاس ته
راوړي که مهرباني وکړۍ مونږ ته ووایۍ چې
ستاسو مجاهدین د کوم ـ کوم ډول وسلو په
استعمال کې مهارت لري؟

ځواب: مونږ هغه وخت کې چې داغنډ تشکیل کړ او د
مجاهدینو د صفونو څخه مو یو منظم قوت جوړ کړ نوما
دوی ته د مختلفو اسلحو لکه شپږ او یا غرنۍ، او بوس
شپږ او یا صحرایی توپ‌ها ټانکو نو کوم چې مونږ د
روسانو نه په غنیمت نیولی وو او د نور و ټولو ثقیلو او
خفیفو غنیمتي وسلو استعمال ور وښود او د غنیمت دهر
ډول وسلې سره مو آشنا کړل . له هغه نه وروسته بیا
مونږ په عملي صورت سره دغه مجاهدین په جهاد کې د-
دې وسلو په استعمال باندې وپو هول چې دوی یې د
دښمن په مقابل کې استعمال کړي . البته د دې نتیجه
ټولو مسلمانانو او د منطقې مجاهدینو ته معلومه شوه
چې په ډیره منظمه توګه دوی خپل هغه څه چې زده
کړی یې وو د دښمن په مقابل کی استعمال کړل .

پوښتنه: د جهادي غنډ په جوړولو کې
ستاسو اساسي هدف څه و او غنډ مود کوم
ضرورت په اساس تشکیل کړ، لطفاً مونږ ته
دا هم ووایۍ چې د نظامي دسپلین لاندې د
جهاد او د آزاد جهاد تر مینځ څه توپیر دی؟

ځواب: څرنګه چې تاسو ته بهتره معلومه ده کوم
مجاهدین چې آزاد جهاد کوي هغه مجاهدین دي چې
دوی دکانداران یا تاجران یا نور خلك دي چې دوی پخپلو
شخصي کارونو مصروف وي د خپل اسلامي شوق او ذوق
په اساس د یوڅه وخت لپاره جهاد ته راځي،چې
دوی په جهاد کی د هغو وسلو سره بلدنه وي او هلته
دوی ډیر وخت هم تیرولی نه شي،ځکه چې دوی د خپل
کور او یا نور و ضروریاتو د پاره بیرته د سنګر نه ځې
نو په دې صورت کې د مسلمانانو په صف کې یوه
نیمګړتیا مینځ ته راځي، یوه خالیګاه پیدا کیږي نو
مونږ مجبور شو چې د دې مجاهدینو نه یو منظم قوت
جوړ کړ و چې پدی کی هغه مجاهدین اشتراك لري

چې هغوی یویا دوه کاله خپل ځانونه د جهاد لپاره وقف کړي وي او بیا په منظمه توګه پدې غنډ کی خپلی جهادي وظیفې ته دوام ورکوي . د منظم جهادي غنډ فایدې دادي چې یوځو خپله مجاهدین هلته دهر ډول وسلې سره بلدیږي او دهغو وسلو استعمال زده کوي،او بیا هغه د دښمن په مقابل کی په صحیح صورت سره استعمالوي . بله خبره داده چې مجاهدین پدې غنډ کې مجاهدینو نه یو منظم قوت جوړ کړ ، او دا منظم قوت د دې په اساس باندی جوړ شو چی مخکښې مجاهدینو چریکي عملیات کول او اوس مجاهدین د لویو لویو ښارونو دنیولو لپاره په تعرضي او جبهه یي سیستم باندی خـــــــــپل پروګرامو نه جوړوي او ددې د پاره یو منظم قوت ته ضرورت پیښ شو . دا منظم قوت مونږ د مجاهدینو د صفونو نه جوړ کړ چې

په هر قسم جهادي صفت سنبالیږي . دوی ته سر بیره پردې چې مونږ نظامی وسله ورکوو د عقیدې په اساس یې تربیه کوو، ترڅو د دښمنانو په مقابل کی د کلکې عقیدی په اساس جهاد وکړي . دلته د دوی دا عقیده لا پیاوړی کیږي چې دغه کمونستان زمونږ د دین دښمنان دي او ترڅو پورې چی د دوی ریښې په افغانستان کې وي مونږ یی نه پریږدو او له مینځه یې وړو . نو پدې اساس باندې مونږ دهغو مختلفو دا منظم قوت کولای شي چې یوه منطقه فتح کړي او وروسته د فتحه کیدلو نه د هغې امنیت او دفاع پخپله غاړه واخلي .

پوښتنه : قوماندان صاحب لکه چې تاسو مخکــې وویل لومړی تاسو د پکتیا په سیمو کی په جهاد بوخت وئ،جلال آباد ته د جهاد لپاره ستاسو راتګ د څه ضرورت او یا علاقې په اساس وُ؟

ځواب: دا خبره صحیح ده چې زمونږ د غنړ مجاهدین د پکتیا په سمیو کې، په خوست کی په جهاد باندې بوخت وو او په هغه ځای کی یې د دښمن په ضد په عملیاتو شروع کړې وه اما کله چی جلال آباد باندې سخته جګړه روانه وه ځرنګه چې داد هر مسلمان وظیفه ده چې بل مسلمان ته په هر وخت کې کومك ورسوي او د ننګرهار مجاهدینو هم مونږ ته مخکښې چی په ژوره باندې لو یه قوا راتله یا مخکسې د پکتیا په مجاهدینو لو یه قوا راتله په هغو سختیو کې له مونږ سره کومك کړی ؤ، نو ځکه مولوي صاحب جلال الدین «حقاني» مونږ ته امروکړ چې تاسو جلال آباد ته خپل مجاهدین بوزئ او هلته خپلو جهادي عملیاتو ته دوام ورکړئ نوپدې اساس مونږ یو شمیر مجاهدین د خوست نه جلال آباد ته راغلو .

پوښتنه: قوماندان صاحب جلال آباد کې مو جهاد د کوم ځای نه پیل کړ او اوس ستاسې مجاهدینو د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو په لاره کې څه ډول بری ترلاسه کړی دی؟

ځواب: کومه ورځ چې مونږ جلال آباد ته داخل شو د خلکو په رهنمایۍ باندې چی هغوی را ته رهنمایی کوله د مجاهدینو له صفو نوسره مو یوځای جهاد پیل کړ، مونږ هلته د جلال آباد شا او خواته لاړلو له نژدې نه مو دهوایي میدان سروې وکړه او هلته مو د خپلو مجاهدینو لپاره د تعرض او د درنو وسلو ځایو نه وکتل او خپل مجاهدین مو د هوایي میدان شا او خوا ته راوستل، بیامو په میدان هوایي باندې په تعرض شروع وکړه د دښمن قواو ته مو په زیاتو ځایونو کې ماتې ورکړه .

پوښتنه: آیا تاسو د نورو تنظیمونو د مجاهدینو سره په یوه سنګر کې جهاد کوئ او که د مختلفو سنګرونو او مختلفو خواو نه په جهاد بوخت یاست؟

ځواب: ځرنګه چی د افغانستان هر مسلمان چې د کمونستانو په مقابل کی د ریړې زمونږ د سنګر ورونه دي او مونږ د هغوی سره یو لاس یو،نو د کوم وخت نه چې جلال آباد ته تللي یو د ټولو جهادي تنظیمونو د مجاهدینو سره اوږه په اوږه خپل اسلامي مقدس جهاد کوو .

پوښتنه: که مهرباني وکړئ د خپلو جهادي خوږ و او ترخو خاطراتو نه زمونږ لوستونکو ته څه ووایئ؟

ځواب: تاسو ته بهتره معلومه ده چې په جهاد کې ترخې خاطرې نشته،ځکه چې جهاد د خدای په لاره کې سعی او قرباني ده نوهره لحظه یې د خوشحالیو او خوښیو شیبه وي . مونږ د جهاد ډیرې زیاتې خوږې خاطرې لرو چې البته که په ټولو باندې درته شروع وکړم نو خوږې کیسې به یې په دوه یا د رې ورځو کې هم خلاصې نه شي، یوازې دومره درته ویلی شم کله چې مونږ جلال آباد ته راغلو او دا منطقه مو و کتله زمونږ مجاهدین یې دومره شوقمن کړل چی ما به مجاهدین احتیاط ته را بلل چې په ډیر سرعت مخ ته مه ورځئ چی خوږ نه شی، نو ټولو به ژړل او ما ته یی ویل ګورئ مجاهدینو چې دومره فتوحات کړي دي نو مونږ بالکل د جلال آباد په ښار باندې ور ننوزو د دې جذبو لیدل چې د خپلو مجاهدینو نه او د منطقې د نور و مجاهدینو نه چې مونږ سره یې ډیره ښه همکاري وکړه او مونږ سره یې ډیره مینه کوله زما ډیره ښه او خوږه خاطره ده چې

زه یې هم د جلال آباد د مجاهدینو نه او هم یې له خپلو مجاهدینو نه لرم . څکه چې زمونږ په مینځ کې دومره اتحاد ، مینه او محبت موجود وُ چې حتی نورو مجاهدینو به مونږ ته ویل چې تاسې را ته کښېنئ او مونږ ستاسو مخکــې څو اما زمونږ مجاهدینو به ورته ویل چې نه تاسی را ته کښېنئ مونږ ستاسو په مخکسی څو،نو دا یو مثل د اصحاب کرام «رض» وُ چې په ننگرهار کی عملي شو کوم وخت کی چې یو اصحابي خپل جام داوبو ډك کړې وُ او هلته د زخمیانو یوتن ته یی ورکړهغــــه ویلې چی زمانه به هغه بل زخمی ډیر تږی وي هغه ته یی ورکړه . کله چې یې هغه به بل ته یوړ،نو هغه – وویل چی هغه بل زخمی ته یی ورووړه په دې ترتیب یی چی کله جام بیرته اول زخمی ته راوړنو هغه د تندې په حالت کی ساه ورکړې وه او په دی ډول ټولو یو د بل لپاره په تنده کې ساه ورکړه . دا مثال مونږ د جلال- آباد په منطقه کې ولید . د منطقې مجاهدینو او نورو مجاهدینو یو له بل سره دومره مینه او محبت در لود چې یو له بل نه به یی ځان مخکې کاوه او خپل ملگری یې د گولی نه بچ کاوه او خپل ځان به یې گولۍ ته ورکاوه .

پوښتنه : قوماندان صاحب آیا د جلال آباد په جــــهاد کی تاسو او نور مجاهدین له ځینو خنډونو سره مخامخ شوُیئ که نه؟ که مخامخ شوی یئ لطفاً ووایئ چی هغه خنډونه څه دي او څه ډول مشکلات لرئ؟

ځواب: مونږ د جلال آباد په منطقه کې صرف له یو ډول خنډ سره،چی هغه ډیر لوی خنډ وُ،مواجه وو او زمونږ د پیشرفت مخه یې نیولې وه هغه خنډ دا وُ چې په جلال- آباد کی یوه واحده قوماندانه نه وه د جلال آباد په منطقه کی ټولو نتظیمونو په مشتر که ډول یو پروگرام

جوړ نه کړ ، د دوی يو واحد قوماندان نه ؤ چې دهرې منطقې او د شا او خوانه يې دوی ته قومانده ورکړې وای او د جلال آباد په ښار باندې يې په يو وخت او تريوې قوماندې لاندې جنگ کولې . کوم وخت چې به د کومې منطقې مثلاً د شمال د طرف نه پروگرام جوړ شونو د جنوب طرف نه مجاهدين به په هغه ورځ باندې برابر نه وو او بياپه کومه ورځ چې به د جنوب له طرف نه پروگرام جوړ شو د شمال له طرفه مجاهدين به په پروگرام کې داخل نه وو ، نو دا لوی ځنډ ؤ چې د مجاهدينو د پرمختگ مخه يې نيوله.علت يې داؤ چې يوه واحده قومانده په هغه منطقه کې موجوده نه وه چې د يو قوماندان ترادارې لاندې ټول مجاهدين اداره شوي وای او ديو سم صحيح او منظم پروگرام سره يې د څلور طرفه د جلال آباد په ښار باندې عمليات شروع کړي وای . انشاء الله د جلال آباد ښار فتح کيږي،خو د جلال آباد د ښار د فتح کيدلو د ځنډيدلو لومړی علت دا ؤ چې يوه واحده قومانده نه وه کله به چې د يو طرف مجاهدينو حمله وکړه د بل طرف مجاهدين به ورته په هغه ورځ باندی برابر نه وو ، مونږ چې هر څومره کوشش وکړ چې د ټولو مجاهدينو د هرطرف نه په يوځای باندې په يوه قومانده په ښار باندی عمليات شروع شي خــــو په دې کامياب نه شو چې د ټولو طرفو نه مثلاً د بهسود و د طرف نه ، د درونټې د طرف نه ، د سرخرود د طرف نه ، د هوايي ميدان د طرف نه ، د(۸۱) غنډ د طرف نه ، د خوشگنبد د طرف نه ،له ټولو سمتونو ـــنه په يوه واحده قومانده باندې په يوه ورځ د جلال آباد په ښار حمله وکړو نو پدې کار کی مونږ موفق نه شو او دا مونږ ته يولوی ځنډ ؤ چې زمونږ د پيشرفت مخه يې څه ناڅه و نيوله . هلته ټول مجاهدين په ډيره عالي روحيه او په ډير لوړ مورال سره د دښمن په مقابل کې اوس هم جنگيږي او مخکـــې هم جنگيدلی دي .

پوښتنه: دښمن زمونږ د زړورو مجاهدينو په مقابل کې دسکډ و توغند يو او د اور لگونکو بمونو وحشيانه بمباريو او ډول-ډول ماينونو دايښودلو د جناياتو نه کاراخلی آيا دا وحشتونه زمونږ د مجاهدينو روحيات کمزوري کولای شي که نه ؟

ځواب: څرنگه چې تاسو ته بهتره معلومه ده چې دښمنانو په افغانستان کې د قسماقسم وسلو نه کار واخيست د کلاشينکوف نه نيولې ترسکډ پورې چې کومې وسلـې دوی جوړې کړې دي . هغه دوی د افغانستان په مجاهدينو باندې استعمال کړلې اوهم يې د قسماقسم د سيسونه کار واخيست ، اما دغه هر قسم وسلــه او هر قسم دسيسه چې دوی افغانستان ته جوړه کړې ده انشاءالله د افغانستان په مجاهدينو باندی يی هيڅ تاثير نه دی کړی ، د دوی په مورال باندې يی تاثير نه دی کړی او مجاهدين يې وارخطا کړي نه دي. لـه دې نه وروسته هم انشاءالله دوی که هر څومره وسلــې استعمال کړي د مجاهدينو په مورال به هيڅ تاثير و نه کړي،که چيرې دوی بم اتوم هم د افغانستان په مجاهدينو باندې استعمال کړي مجاهدين به د خپلو قربانيو نه او د خپل جهاد نه لاس وانه اخلي ، ترڅو پورې چې په افغانستان کې يو اسلامي حکومت جوړ شوی نه وي ترهغه پورې به زمونږ مجاهدين دخپلې مبارزې نه لاس وانه اخلي .

پوښتنه: قوماندان صاحب! مونږ نن سباد ملحدينو له ژبو نه د اسلام نوم آورو آيا د-

دوی په وحشتونو او وحشیانه جنایاتو کی د دې آوازونو سره په سنگرونو کې د اسلام دلاری د مجاهدینو په مقابل کی کوم توپیر راغلی دی که نه؟

ځواب: څنگه چی مامخکس هم درته وویل چی دښمن له هر ډول تاکتیکونو نه کار واخیست، څود مجاهدینو د مبارزې او د مجاهدینو د جهاد خنډوگرځي او دوی خپل شوم مرام ته ورسیږي اما په فضل د خدای هر رنگــه رسیسې او قسم قسم نیرنگونه او تاکتیکو نه چې دوی په افغانستان کې استعمال کړل د مجاهدینو په اذهانو باندې یې هیڅ ډول تاثیر ونه کړ، حتی د مجاهدینو په صفونو کې یې خلك تربیه کړل چی تخریب کاري وکړي مغه هم شنډ شو، نورې ډیری چیغې یې وکړې چې مونږ سوله کوو او د قسم قسم تاکتیکونو نه یی کار واخیست اما د دوی هیڅ ډول تاکتیك د مجاهدینو په مقابل کې

پرمخ لاړ نه شو . مجاهدین دهغوی په مقابل کی و دریدل او خپلې مبارزې ته یې دوام ورکړ اوس چې کوم تکتیك دوی د روسانو په خوله باندې شروع کړی دی چې دوی وایی چی مونږ مسلمانان یو او مجاهدین زمونږ ورونه دی، مونږ سوله غواړو دا د مسلحانه جهاد هغه اثرات وو چی روسان یی د افغانستان نه وشړل او اوس یی نجیب دې ته مجبور کړیدی، دا روسانو ورته ویلي دي چی په زر باندې خو ونشوه نو اوس پدې باندی د افغانستان خلك غلطوه چې مونږ خو مسلمانان یو، مونږ مه ولئ، له مونږ سره جهاد نشته دی، نو دغه ډول پروپاگندې او تبلیغات چې دوی په دروغو باندې کوي دا زمونږ مجاهدینو ډیرښه پیژندلی دي چی دامنافقین دی ددوی هره خبره دروغ ده ټول پیژندل شوي خلك دي هر څوك پوهیږي چی نجیب څوك دی مخکښی څوك ؤ او اوس څوك دی لکه یومتل دی چې وایی: «خر هماغه خر

دی، خو کته یې بدله کړیده» نجیب مخکې هم د «خاد»
رئیس ؤ ډیر مسلمانان یی وژلی دي او ډیرو مسلمانانو
ته یی تکلیفو نه رسولي دی او ډیر مسلمانان یی
ځورولي دی. هغه نجیب چې «کی جی بی» غړی دی اول
یې په هغه وظیفه کی خدمت کاوه او اوس «کی، جی،
بی» ورته دا وظیفه ورکړیده چی اوس په افغانستان
کی دسولې چغې وهه، څو دافغانستان خلك د دې جهاد
نه لاس واخلي او مونږ بیرته خپل هغه اصلی هدف ته

دجهاد له سپیڅلی سنگرڅخه په نه ستړی کېدونکی احساس پر دښمن مرگوني گوزارونه کوي .

چې د اسلام له مینځه وړل او د کمونیزم واکمن گرځول
دی، په افغانستان کې ورته ورسیږو ، خو انشاءالله دغه
مرام به له خپل ځان سره خاورو ته یوسي او د
افغانستان په مجاهدینو باندی به هیڅ اثر و نه کړي .

پوښتنه: د نجیب او نورو ملحدینو ددې ډول چیغو هدف ستاسو په نظر څه دی؟

ځواب: د روسانو نوکرۍ دا ملحدین ړانده کړي او فکر
کوې چی د افغانستان خلك به د دوی په خبرو تیرو ځي
امانن سبا شکر الحمدللّه ټول افغانان ځیر دې او پدې
باندی پوهیږي چې زمونږ دښمن څوك دی، زمونږ د
عقیدې دښمن څوك دی، زمونږ د اسلام دښمن څوك دی،
زمونږ د دین دښمن څوك دی، نو دوی غواړي چی اوس
د یو بل نیرنگ نه یعنی مخکښی یی د صلحې له لاری دا
کوښش کاوه او اوس په دی دسیسه چی وایی: مونږ
مسلمانان یو او مونږ د تاسو سره سوله کووتاسو زمونږ
ورونه یاستئ . دوی ولیدل چې پله لار زمونږ نشته
نوپدې لار باندی به مونږ د افغانستان خلك غلط کړو او
دوی به راولو او دلته به بیا مونږ خپل هدف ته ځانونه
ورسوو، مگر اوس د افغانستان خلك په دې باندی پوه
دې چې د دوی هر ډول دسیسی شنډې او خنثی کړي او

د خپل جهاد نه لاس وانه خلي .

پوښتنه: قوماندان صاحب د دې ډول تاکتیکی چدغو په شرایطو کی ستا پیغام مجاهدینو ته څه دی؟

ځواب: زما بیغام ټولو مجاهدینو ته په دې باره کې دادی چې زمونږ مجاهدین ټول باید د دښمنانو پدې دسیسو باندی پوه شي او دا باید په نظر کې ونیسي چې دا دښمن چې نن یی دا چدغې شروع کړیدي دا پخوا چیرته ؤ او ده پخوا څه کړیدی، آیا څومره مسلمانان یې وژلی دی،آیا د څومره مسلمانانو وینی دوی څښلی دی،آیا د څومره مسلانانو کونړو ، یتیمانو په سرباندې دوی لوبی کړیدی چی البته هر یو مسلمان ته، د افغانستان هر فرد ته دا معلومات دی چی نجیبیانو او نورو کمونستانو خلقیانو ، پرچمیانو افغانان څنګه کړل او کوم حد ته یې و رسول، ملت یې په روسانو باندې خرڅ کړ ، روسان یې افغانستان ته را وستل ، د افغانستان ټولې کونډې-رنډې یی و ځورولې ، د افغانستان ماشومان یې ورباندې قتل کړل ، د افغانستان خاوره یې په بل مخ ور باندې واړوله،نو دغه کار چاوکړ ؟ دا دغو پرچمیانو او خلقیانو چی نن دغه چیغی وهي دغه خلکو وکړ ، نو زما ټولو مجاهدینو ته دا عرض دی چې د دې کمونستانو په مقابل کی په داسې سختو اقداماتو باندې شروع وکړې چی د دوی هر جنایت او هره خبره چی دوی یې کوي هغه باید خنثی شي او د دوی په مقابل کې په کلك ډول ودریږی چی د دوی مکر اوحیلی اوخبری ونه منی او د دوی په مقابل کی مسلحانه جهاد ترهغه وخته پوری وکړی چی په افغانستان کې مونږ د خپلو شهیدانو او د خپلو کونډو

مجاهدین د یوې روسي راغورځیدلې الوتکې تر څنګ

پټیمانو بدل نه وي اخیستی او هلته مونږ اسلامي حکومت مینځ ته نه وي راوړی، تر هغه پورې مونږ له خپل جهاد نه لاس نه اخلو دا زمونږ توصیه ده چې دوی د دښمن پدې بې ځایه پروپاګندو باندې ونه غولیږي، غلط نه شي او خپل جهاد ته په صحیح صورت سره ادامه ورکړي .

او دهغوی ویجاړ شوي ټانکونه اوس هم هلته پراته دي او مړي یې چې ورنه پاتې شوي دي د سرکونو په ژی باندې اوس هم پراته دي، نو زمونږ مجاهدین چې کله جلال-آباد ته داخل شوي دي له هغه وخت راهیسې یې ډیر فتوحات کړیدي چې دهغو تفصیل له مونږ سره موجود دی خو دهغی دجملی نه یو څو مثالونه زه تاسو

په څېرو کې یې یې د ښمن باندې دبرې دا پله ورایه سنکاري .

پوښتنه: قوماندان صاحب مهرباني وکړئ په جلال آباد کې د خپل جهاد د بریو څو مثالونه زمونږ لوستونکو ته ووایئ؟

ځواب: په جلال آباد کی انشاءالله ټولو مجاهدینو ډیر فتوحات کړیدي چې په دې باب تاسو ښه خبریی چی د تورخم نه نیولې تر ثمرخیلو پورې د دښمن ټول قطعات او جزو تامونه چی پرلارې باندی وو له منځه یوړل شول

ته بیانوم: زمونږ لمړی حمله کله چی په میدان هوایی باندې شروع شوه نوهلته د دښمن ډیر ټانکو نه ولاړ وو کله چی زمونږ مجاهدین په دوی باندی ورغلل او تعرض یی ور باندې وکړ نو نور کمونستان د مور چلونو نه-وتښتیدل او امنیتي پوستی یی مجاهدینو ته خالي کړې . دا ټانکو نه د مجاهدینو نه په منډه شول ، ځینو مجاهدینو وویل چې اوس خوټانکونه وتښتیدل د شا د

طرفه دوی پسې مه ځئ.زمونږ ځینو مجاهدینو وویل چې مونږ باید تښتیدونکي ټانکونه راونیسو.دوی ورپسې منډه کړه او د ټانکونو مخ ته و دریدل او هغه درې ټانکونه چی د تیښتی په حالت کې وو زمونږ مجاهدینو په راکټ باندې وویشتل او په هغه ځای کې یی تخریب کړل او د دښمن هغه لو یه قرارگاه چی د هوایي میدان په مینځ کې وه مجاهدینو و نیوله د هغی ورځی نه وروسته ډیر فتوحات و شول په دوهم ځل باندې بیا په هوایی میدان باندې حمله وشوه تقریباً شپږ پوستی له مینځه لاړې له هغه نه وروسته بله حمله په مقام خان کلا باندې و شوه چې هلته شپږ پوستې د مجاهدینو لاس ته ورغلې او د هغی نه زیات شمیر وسلې، هاوانونه

او دهشکې د مجاهدینو لاس ته ورغلې.دهغې نه وروسته په پرکن باندې زمونږ مجاهدینو حمله وکړه چې د دښمن زیات شمیر وسلې مجاهدینو ته په غنیمت ورغلی او ټوله منطقه د کمونستانو نه خالي شوه،چی اوس هم د مجاهدینو په لاس کې ده،د هغه نه وروسته په چپرهار باندې مجاهدینو سخت عملیات وکړل چی د دښمنانو هغه سختې-سختې مورچې لکه گارناو او داسی نورې سختې مورچی د مجاهدینو لاس ته ورغلې او زیات شمیر وسلی یې له پوستو نه ونیولی . دهغه نه وروسته په شیخ مصري باندې مجاهدینو تعرض وکړ چې هلته شپږ پوستې له کمونستانو نه ونیول شوې او په (٨١) غنډ باندې تعرض اجرأ شو چې په هغه کې

مجاهدین د ١٢- بیم لجی د ستگاه تر خنگ لید ل کیږي .



په عکس کې د دښمن یوه ویجاړه شوې الوتکه لیدل کیږي چې مجاهدینو راغورځولې ده

تقریباً دوه هاوانونه، دوې دهشکې او زیات شمیر خفیفه وسله مجاهدینو ته په لاس ورغله . د دې تفصیل ښته زیات دی،خو کوم بریالیتوبونه چې مجاهدینو په جلال آباد کې ترلاسه کړي دي هغه ټول شا او خوا سیمې د جلال آباد مجاهدینو قبضه کړي دي اوس دښمن په یو غار کې ننوتلی دی ، مجاهدین غواړي چې د ښارینیولو کې د مجاهدینو تلفات کم شي او د دښمن تلفات زیات شي ، دښمن له مینځه یوسي او د جلال آباد ښار ونیسي . صرف د جلال آباد ښار او یو محدوده برخه د دښمن په لاس کې ده او نوره ټوله منطقه انشاالله د مجاهدینو په لاس کې ده .

پوښتنه: تاسو خپل جهاد ته ترکومه وخته پورې دوام ورکوئ؟

ځواب: ترهغه وخته پورې مونږ جهاد ته ادامه ورکوو تر کوم وخت پورې چې په افغانستان کې یو اسلامي حکومت مینځ ته نه وي راغلی،ترهغه وخته پوری مونږ خپل ټوپك ، خپل کلاشینکوف له اوږو نه ، نه کوز وو او انشاءالله ترهغه وخته پورې جنګیږو،تر څو چې یو اسلامي حکومت په افغانستان کې جوړ شي، مونږ ترهغه وخته پورې جهاد کوو او خپل جهاد ته ادامه ورکوو .

بسم اللہ الرحمن الرحیم

عن عمران بن حصین قال قال رسول اللہ -
صلی اللہ علیہ وسلم لاتزال طائفۃ من
امتی یقاتلون علی الحق ظاہرین علی من
ناواھم حتی یقاتل اخرھم المسیح الدجال:

" رواہ ابو داود "

ستر مجاهد او ديني عالم مولوي نظام الدين حقاني د يو جهادي سنگر د ليدلو په حال کې.